**د افغانستان اسلامي جمهوریت**

**د عدلیې وزارت**

ACKU

# رسمي جریده

**فوق العاده ګڼه**

# پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون

**د خپریدو نېټه: د ۱۳۸۷ هـ.ش کال د کب د میاشتي (۲۸) پرله پسي نمبر: (۹۷۶)**

**فرمـان شـماره (۱۷۱) مـؤرخ ۱۳۸۷/۱۲/۲۷ رئـیس جمهـوری اسـلامی افغانسـتان در مـورد توشـیح قـانون مالیـات بـر عایدات.**

**قانون مالیات بر عایدات**

ACKU

## پر عایداتو باندې د مالیاتو د قانون د توشېح په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس

## فرمان

**گڼه: (۱۷۱)**

**نېټه: ۱۳۸۷/۱۲/۲۷**

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د څلور شپېتمې مادې د (۱۶) فقرې د حکم له مخې، پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون چې د ملي شورې د مجلسونو د گډ هیئت د ۱۳۸۷/۱۲/۱۱ نېټې تر (۱۱۷) گڼې فیصلې لاندې په (۱۷) فصلونو او (۱۱۳) مادو کې تصویب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او له قانون او مصوبې سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

ACKU

**د افغانستان ملي شوري**

**ولسي جرگه**

**مصوبه**

**پر عايداتو باندې د مالياتو قانون**

**گڼه: (۱۱۷)**

**نېټه: ۱۳۸۷/۱۲/۱۱**

د اساسي قانون د سلمې مادې د حکم پر بنسټ، د ملي شوري گډ هيئت (هرې جرگې له شپږو شپږو غړو جوړ) پر عايداتو باندې د مالياتو قانون له يو شمېر تعديلونو سره يو ځاي په (۱۷) فصلونو او (۱۱۳) مادو کې د ۱۳۸۷ کال د کب د مياشتې په (۱۱) نېټه تصويب کړ.

**د گډ هيئت رئيس**

**محمد اکبر وحدت**

**د گډ هيئت مرستيال**

**صديق احمد عثمانی**

ACKU

## فهرست مندرجات قانون مالیات بر عایدات

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | اخذ مالیه | ۱ |
| مادۀ سوم: | سال مالی | ۲ |
| مادۀ چهارم: | سنجش مالیه | ۲ |
| مادۀ پنجم: | مالیات اشخاص مقیم | ۳ |
| مادۀ ششم: | معافیت مالیات اشخاص غیر مقیم | ۴ |
| مادۀ هفتم: | پرداخت مالیات و کسرات مجاز | ۴ |
| مادۀ هشتم: | مالیات فعالیت های اقتصادی | ۴ |
| مادۀ نهم: | مالیات دول خارجی و مؤسسات بین المللی | ۵ |
| مادۀ دهم: | معافیت مالیاتی مؤسسات | ۵ |
| مادۀ یازدهم: | معافیت مالیاتی ادارات دولتی | ۶ |


### فصل دوم

### تعیین عواید قابل مالیه


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ دوازدهم: | اصطلاحات | ۶ |
| مادۀ سیزدهم: | عایدات تابع مالیه | ۶ |
| مادۀ چهاردهم: | عایدات غیر تابع مالیات | ۷ |
| مادۀ پانزدهم: | معافیت مالیاتی مواد احتراقی | ۸ |
| مادۀ شانزدهم: | مالیات بر کرایه یا اجارۀ اموال غیر منقول | ۸ |


ACKU

مادۀ هفدهم: مکلفیت وضع مالیه از معاشات دستمزدها ........................................................ ۸
مادۀ هجدهم: مصارف قابل مجرائی ........................................................................ ۹
مادۀ نزدهم: مصارف غیر قابل مجرائی ................................................................ ۱۰
مادۀ بیستم: عواید منابع داخلی ......................................................................... ۱۱

## فصل سوم

## مفاد یا زیان از درک فروش، تبادله یا انتقال دارائی

مادۀ بیست و یکم: مفاد تابع مالیات بر عایدات ................................................................ ۱۳
مادۀ بیست و دوم: مفاد قابل مالیه سال مالی ................................................................ ۱۳
مادۀ بیست و سوم: مالیه از انتقال ملکیت ................................................................ ۱۳
مادۀ بیست و چهارم: کسر و وضع مصارف از عواید قابل مالیه ........................................................ ۱۳
مادۀ بیست و پنجم: تثبیت مالیه به قیمت روز ................................................................ ۱۴
مادۀ بیست و ششم: عدم تأثیر نوع انتقال دارایی بر مالیه دهی ........................................................ ۱۴
مادۀ بیست و هفتم: وضع زیان ناشی از عواید قابل مالیه ........................................................ ۱۴
مادۀ بیست و هشتم: عدم وضع اضافی زیان از عواید قابل مالیه ........................................................ ۱۴
مادۀ بیست و نهم: سنجش مالیه از تزئید ارزش دارائی ................................................................ ۱۴
مادۀ سی ام: مالیات فروش اموال منقول و غیر منقول ........................................................ ۱۵

## فصل چهارم

## شرکت ها

مادۀ سی و یکم: اصطلاحات ................................................................ ۱۶
مادۀ سی و دوم: احکام قابل تطبیق بالای شرکت های محدودالمسؤلیت و تضامنی مختلط ..................... ۱۶
مادۀ سی و سوم: مالیات شرکت تضامنی ................................................................ ۱۷
مادۀ سی و چهارم: تعیین عواید خالص ................................................................ ۱۷

ACKU

مادۀ سی و پنجم: تقسیم مبالغ حاصله ........................................ ۱۷

## فصل پنجم

## قواعد محاسبه

مادۀ سی و ششم: ترتیب و نگهداری اسناد ........................................ ۱۸

مادۀ سی و هفتم: طریقۀ بعدی محاسبه ........................................ ۱۸

مادۀ سی و هشتم: طریقه نقدی محاسبه ........................................ ۱۸

مادۀ سی و نهم: شکل و محتوای اسناد و دفاتر ........................................ ۱۸

مادۀ چهلم: موجودی اخیر سال ........................................ ۱۸

مادۀ چهل و یکم: تثبیت عواید دو یا بیشتر مؤسسات تجارتی ........................................ ۱۹

## فصل ششم

## احکام خاص در مورد شرکت های سهامی و محدودالمسؤلیت

مادۀ چهل و دوم: مجرائی زیان عملیاتی ........................................ ۲۰

مادۀ چهل و سوم: توزیع دارائی های شرکت به سهمداران ........................................ ۲۰

مادۀ چهل و چهارم: توزیع دارائی ها حین انحلال شرکت ........................................ ۲۰

مادۀ چهل و پنجم: توزیع پول یا سایر دارائی ها ........................................ ۲۱

مادۀ چهل و ششم: وضع نمودن مالیه ........................................ ۲۱

مادۀ چهل و هفتم: مجرائی استهلاک و زیان ........................................ ۲۲

## فصل هفتم

## مالیات شرکت های بیمه

مادۀ چهل و هشتم: احکام قابل تطبیق در مورد شرکت های بیمه ........................................ ۲۳

مادۀ چهل و نهم: عواید تابع مالیات بر عایدات شرکت های بیمه ........................................ ۲۳

مادۀ پنجاه هم: معافیت مالیاتی بیمه شدگان ........................................ ۲۳

مادۀ پنجاه و یکم: تأدیات غیر قابل مجرائی شرکت های بیمه ........................................................ ۲۴

مادۀ پنجاه و دوم: تأدیات قابل مجرائی شرکت های بیمه ........................................................ ۲۴

مادۀ پنجاه و سوم: تثبیت عواید قابل مالیه شرکت های خارجی بیمه ........................................................ ۲۵

## فصل هشتم

## مالیه بانک ها، شرکت های سهامی، قرضه و سرمایه گذاری

مادۀ پنجاه و چهارم: مفاد تابع پرداخت مالیات ........................................................ ۲۶

مادۀ پنجاه و پنجم: مجرائی مصارف ضروری ........................................................ ۲۶

مادۀ پنجاه و ششم: افزودی به ذخیره ........................................................ ۲۶

مادۀ پنجاه و هفتم: تزئید یا تنقیص در ارزش ........................................................ ۲۶

## فصل نهم

## وضع نمودن مالیات از منابع عایدات

مادۀ پنجاه و هشتم: وضع و انتقال مالیه ........................................................ ۲۷

مادۀ پنجاه و نهم: مالیه کرایه منازل و ساختمان ها ........................................................ ۲۷

مادۀ شصتم: میعاد پرداخت مالیات و انتقال ........................................................ ۲۸

مادۀ شصت و یکم: تهیۀ صورت حساب ........................................................ ۲۹

مادۀ شصت و دوم: میعاد ارائه صورت حساب ........................................................ ۲۹

مادۀ شصت و سوم: ارایۀ اظهار نامه ........................................................ ۲۹

## فصل دهم

## مالیه معاملات انتفاعی

مادۀ شصت و چهارم: مالیه عرصه خدمات و معاملات انتفاعی ........................................................ ۳۰

مادۀ شصت و پنجم: معافیت از مالیۀ معاملات انتفاعی ........................................................ ۳۰

مادۀ شصت و ششم: اندازۀ مالیه معاملات انتفاعی ........................................................ ۳۱

ACKU

مادۀ شصت و هفتم: تطبیق مالیۀ معاملات انتفاعی .......................................................... ۳۲

## فصل یازدهم

## مالیات ثابت

مادۀ شصت و هشتم: فعالیت های انتفاعی تابع مالیات ثابت .............................................. ۳۳

مادۀ شصت و نهم: میعاد تادیۀ مالیۀ ثابت ........................................................................ ۳۳

مادۀ هفتادم: مالیۀ ثابت اموال وارداتی ........................................................................۳۳

مادۀ هفتاد و یکم: مالیۀ ثابت عراده جات ......................................................................... ۳۴

مادۀ هفتاد و دوم: مالیۀ موضوعی قراردادی ...................................................................... ۳۵

مادۀ هفتاد و سوم: مالیۀ ثابت عواید نمایشات ..................................................................... ۳۶

مادۀ هفتاد و چهارم: مالیۀ ثابت تشبثات کوچک (اصناف) ................................................... ۳۶

مادۀ هفتاد و پنجم: تعیین مالیات ثابت بالای فعالیت های اقتصادی کوچک (اصناف) ............................ ۳۷

مادۀ هفتاد و ششم: تعدیل معافیت ها ............................................................................... ۳۷

## فصل دوازدهم

## مقررات مالیاتی جهت وضع مالیات بالای دارندۀ جواز معدن، صلاحیت نامۀ معدن یا قرارداد هایدرو کاربن

مادۀ هفتاد و هفتم: تعریفات ............................................................................................ ۳۸

مادۀ هفتاد و هشتم: اولویت فصل دوازدهم ........................................................................ ۳۹

مادۀ هفتاد و نهم: مکلفیت های مالیاتی دارندگان جواز معدن ........................................................ ۳۹

مادۀ هشتادم: مالیۀ معاملات انتفاعی ........................................................................... ۴۰

مادۀ هشتاد و یکم: وضع استهلاک .............................................................................. ۴۰

مادۀ هشتاد و دوم: مصارف اعمار سرکها ........................................................................ ۴۱

مادۀ هشتاد و سوم: مصارف قبل از تولید ......................................................................... ۴۲

مادۀ هشتاد و چهارم: وضع کسرات جهت اعانه به یک صندوق پولی برای تمویل بودجه مکلفیت های محیطی و اجتماعی ........................................ ۴۳

مادۀ هشتاد و پنجم: انتقال زیان و دوام موافقتنامه ها ........................................ ۴۳

## فصل سیزدهم

## تعیین مالیه، ارایۀ اظهارنامه ها، اعتراضات و تادیۀ مالیات

مادۀ هشتاد و ششم: نمبر تشخیصیۀ مالیه دهنده ........................................ ۴۵

مادۀ هشتاد و هفتم: تعیین مالیه و تعدیل آن ........................................ ۴۵

مادۀ هشتاد و هشتم: میعاد ارایۀ اظهارنامۀ مالیاتی و تادیۀ مالیات ........................................ ۴۶

مادۀ هشتاد و نهم: اعتراضات و عرایض ........................................ ۴۷

مادۀ نودم: پس پرداخت ........................................ ۴۸

مادۀ نود و یکم: تحصیل معلومات ........................................ ۴۸

## فصل چهاردهم

## احکام تطبیقی

مادۀ نود و دوم: تحصیل مالیات تأدیه ناشده از شخص ثالث ........................................ ۴۹

مادۀ نود و سوم: مکلفیت آمرین، سهمداران و سایر اشخاص ........................................ ۴۹

مادۀ نود و چهارم: شخص ممنوع الخروج ........................................ ۵۰

مادۀ نود و پنجم: مسدود نمودن ........................................ ۵۰

مادۀ نود و ششم: محدودیت دسترسی مؤدی به دارائی ........................................ ۵۰

## فصل پانزدهم

## جلوگیری از کتمان مالیه

مادۀ نود و هفتم: معاملات میان اشخاص مرتبط ........................................ ۵۱

مادۀ نود و هشتم: کتمان مالیه ........................................ ۵۱

ACKU

## فصل شانزدهم

## مالیهٔ اضافی و جرایم مالیاتی


مادهٔ نود و نهم: تخلفات و مجازات ........................................................ ۵۲

مادهٔ صدم: مالیه اضافی در صورت عدم تادیهٔ مالیه به وقت معینه .............................. ۵۲

مادهٔ یکصد و یکم: مالیه اضافی بر عایدات در صورت عدم حفظ اسناد ............................ ۵۲

مادهٔ یکصد و دوم: مالیه اضافی در صورت عدم ارائه اظهار نامهٔ مالیاتی ......................... ۵۳

مادهٔ یکصد و سوم: مالیه اضافی در صورت عدم وضع مالیه ..................................... ۵۳

مادهٔ یکصد و چهارم: مالیه اضافی در صورت عدم تادیهٔ مالیه .................................... ۵۳

مادهٔ یکصد و پنجم: مالیه اضافی در ارتباط بر نمبر تشخیصیهٔ مالیه دهنده ........................ ۵۴

مادهٔ یکصد و ششم: تخلفات مؤظفین مالیاتی ................................................. ۵۴

مادهٔ یکصد و هفتم: صلاحیت تحصیل مالیات اضافی ........................................... ۵۴


## فصل هفدهم

## احکام نهائی


مادهٔ یکصد و هشتم: وضع طرزالعمل و تهیهٔ فورمه ها .......................................... ۵۵

مادهٔ یکصد و نهم: عدم صدور جواز ......................................................... ۵۵

مادهٔ یکصد و دهم: شرایط استفاده از معافیت ................................................ ۵۶

مادهٔ یکصد و یازدهم: ارجحیت قانون ........................................................ ۵۶

مادهٔ یکصد و دوازدهم: مکلفیت ها و باقیداری ها ............................................. ۵۶

مادهٔ یکصد و سیزدهم: تاریخ انفاذ .......................................................... ۵۷

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبنیٰ**

**لومړۍ ماده:**

(۱) دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د دوه څلوېښتمې مادې د حکم له مخې د مالیې د ټاکلو او د هغې د ورکړې د ډول په منظور وضع شوی دی.

(۲) مالیه الزامي ورکړه ده چې د دولت د مالي بنسټ د پیاوړتیا او عامې سوکالۍ په منظور، له حقیقي او حکمي اشخاصو څخه د متقابل خدمت له سرته رسولو یا د جنس له وړاندې کولو پرته، د دې قانون د حکمونو مطابق اخستل کېږي.

(۳) هر ډول هغه مالیه چې د دولتي یا غیر دولتي ادارو په واسطه د دې قانون د حکمونو مطابق وضع یا تحصیلېږي، د دولت (مالیې وزارت) په ټاکلي حساب بانک ته تحویلېږي.

**د مالیې اخستل**

**دوه یمه ماده:**

(۱) د هېواد په د ننه او بهر کې د حقیقي او حکمي اشخاصو له ټولو عوایدو څخه چې له افغاني سرچینو څخه لاسته راځي او هغو عوایدو څخه چې په افغانستان کې مېشت یې له غیر افغاني سرچینو او بهر څخه لاسته راوړي، د دې قانون د حکمونو مطابق، مالیه اخستل کېږي.

(۲) د لاندې شرایطو لرونکي حقیقي او حکمي اشخاص د افغانستان مقیم ګڼل کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د مالي کال په اوږدو کې د شخص د اوسېدو اصلي ځای په هېواد کې د ننه وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د مالي کال په اوږدو کې شخص، ټولې (۱۸۳) ورځې موده په افغانستان کې د ننه تېره کړې وي.

۳- هغه کارکوونکي چې د مالي کال په اوږدو کې د دولتي خدمتونو د سرته رسولو په منظور، له هېواد څخه بهر توظیف شوي وي.

ACKU

۴- نور هغه بنسټونه چې تأسیسولو یې د مالي کال په اوږدو کې صورت موندلی وي یایې مرکزي اداره په افغانستان کې د ننه وي.

- افغاني سرچینې: هغه عواید دي چې په داخل کې د هېواد له سرچینو څخه په افغانستان کې د مېشتو اشخاصو او په بهر کې د دولتي ادارو له شتمنیو څخه لاسته راځي.

- غیر افغاني سرچینې: هغه عواید دي چې د افغانستان په د ننه کې د نورو هېوادونو له سرچینو څخه په افغانستان کې د مېشتو اشخاصو په واسطه، لاسته راځي.

- کورنی سرچینې: هغه عواید دي چې د هېواد له کورنیو سرچینو څخه د افغاني او غیر افغاني سرچینو په شمول لاسته راځي.

**مالي کال**

**درېیمه ماده:**

(۱) مالي کال د دې قانون په منظور له هجري شمسي کال څخه عبارت دی چې د وري له لومړۍ څخه پیل او د هغاغهٔ کال د کب د میاشتې په وروستۍ ورځ پای ته رسېږي.

(۲) که چېرې حکمي شخص د دې مادې په (۱) فقره کې درج له مالي کاله څخه په غیر له بل مالي کاله د کټې اخستنې غوښتنه وکړي، مکلف دی په لیکلي توه د خپل مالي کال په نورو دوولسو میاشتو باندې د بدلون دلایل د مالیې وزارت ته وړاندې کړي. د مالیې وزارت نوموړی غوښتنلیک یوازې د هغهٔ د مؤجه والي په صورت کې منظور وي.

(۳) د دې مادې په (۲) فقره کې درج مالي کال له هغې نېټې څخه د تطبیق وړ دی چې د مالیې وزارت لخوا کتباً مشخص شي.

(۴) د مالیې وزارت واک لري، د دې مادې په (۳) فقره کې درج شوی تجویز حسب اللزوم لغو کړي.

**د مالیې سنجول**

**څلورمه ماده:**

(۱) د حکمي اشخاصو پر عایداتو باندې مالیات، په مالي کال کې د هغهٔ د مالیې وړ عوایدو په سلو کې شل دي.

(۲) د اسعاري عوایدو پر عایداتو باندي مالیات په افغاني پیسو سنجول او تسعیر کېږي. د تسعیر نرخ، د هرې میاشتې په پای کې د پلورنې پر بنسټ د د افغانستان بانک د آزاد نرخ اوسط دی.

(۳) د حقیقي اشخاصو پر عایداتو باندې مالیات د لاندې جدول مطابق سنجول کېږي:

| د مالیي وړ عواید | د مالیي مقدار |
|---|---|
| لـه صـفر څخـه تـر پنځـه زرو افغانیو پورې | صفر (معاف) |
| له پنځه زره او یوې څخه تـر دوولـس زرو او پنځـه سوه افغانیو پورې | په سلو کې دوه |
| له دوولس زرو پنځه سوه یوې افغانی څخه تر سلو زرو افغانیو پورې | پـــر (۱۵۰) ثـــابتو افغـــانیو برسېره په سلو کې لس |
| لـــه ســـلو زرو او یـــوې افغاني پورته | لــه (۸۹۰۰) ثــابتو افغــانیو برسېره په سلو کې شل |

**د مېشتو اشخاصو مالیات**

**پنځمه ماده:**

(۱) په افغانستان کې د مېشتو حقیقي اشخاصو پر عایداتو باندې مالیات، په لاندې توګه محاسبه کېږي:

۱- د هغو عوایدو په شمول چې له بهرنیو سرچینو څخه یې تر لاسه کوي، د مالیي وړ عوایدو پر بنسټ.

۲- له هغي ترلاسه شوې ګټې څخه چې بل هېواد ته ورکول کېږي. پر عایداتو باندې د مالیاتو پربنسټ پدې صـورت کـې، مالیه د مالیي ورکوونکي لـه عوایدو څخـه هغي برخـي مالیـه د مجرایي وړ ده چې د مـالیي ورکوونکي لـه بهرنیـو عوایدو پورې مربوطه وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې په افغانستان کې مېشت حقیقي اشخاص له څو بهرنیو هېوادونو څخه عواید ولري، پر عایداتو باندې د مالیاتو د قانون د تعلیماتنامې له په پام کې لرلو سره، د مالیي مجرایي له هغو عوایدو سره متناسبه صـورت مومي چې له جلا هېوادونو څخه یې ترلاسه کوي.

(۲) په افغانستان کې مېشت حکمي اشخاص د مالیي وړ هغو عوایدو پربنسټ چې لـه کورنیو او بهرنیو سرچینو څخه یې ترلاسه کوي، د دې مادې پـه (۱) فقره کې د درج شویو حکمونو لـه پـه پـام کې نیولو سره، پر عایداتو بـاندې د مالیـاتو د ورکړې تابع ګرځي.

ACKU

## د غیر مېشتو اشخاصو د مالیاتو معافیت

**شپږمه ماده:**

غیر مېشت اشخاص په هغهٔ صورت کې د څلورمي مادې په (۳) فقره کې پر عایداتو باندې د مالیاتو د ورکړې درج شوي له معافیت څخه ګټه اخلي چې دغه معافیتونو د هغوی د متبوع هېواد لخوا په بالمثل ډول په هغهٔ هېواد کې د افغاني غیر مېشتو اشخاصو لپاره اټکل شوي وي.

## د مالیاتو ورکړه او مجاز کسرات

**اوومه ماده:**

(۱) غیر مېشت حقیقي او حکمي اشخاص، چې په اقتصادي او سوداګریزو فعالیتونو بوخت نه وي، د افغانستان له کورنیو سرچینو څخه د ترلاسه شوو عوایدو پر بنسټ د ټکټاني، د ونډې د ګټې، کرایې، حق الامتیاز او نورو هر ډول عوایدو له مدرکه د دې قانون د حکمونو مطابق، پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع دي.

(۲) د غیر مېشتو حکمي اشخاصو له ټکټاني پرته عوایدو، د ونډې له ګټې، کرایې او حق الامتیاز څخه پدې قانون کې درج شوي مجاز کسرات په هغهٔ صورت کې د تطبیق وړ ګڼل کېږي چې پدې قانون او پر عایداتو باندې د مالیاتو په تعلیماتنامه کې د درج شوو معلوماتو لرونکی حقیقي او صحیح اظهار لیک اړوندو ځانګو ته وړاندې کړي.

## د اقتصادي فعالیتونو مالیات

**اتمه ماده:**

(۱) هغه غیر مېشت حقیقي او حکمي اشخاص، چې په افغانستان کې په اقتصادي، سوداګریزو او خدماتي فعالیتونو باندې بوخت دي، مکلف دي خپل مالیات د هغو عوایدو پر بنسټ چې د هېواد له کورنیو سرچینو څخه یې ترلاسه کوي، ورکړي.

(۲) پر عایداتو باندې د مالیاتو کسرات په هغهٔ صورت کې د مجرایي او محاسبې وړ ګڼل کېږي چې د هېواد له د ننه سرچینو څخه په ترلاسه شوو عوایدو پورې مربوط وي.

(۳) د هغو الوتکو او د هغو د کارکوونکو له عوایدو څخه مالیه چې د افغانستان په قلمرو کې د بهرني دولت تر بیرغ لاندې فعالیت کوي، پدې شرط معاف ګڼل کېږي چې بهرنی دولت رت افغاني بیرغ لاندې الوتکو او د هغو اړوندو کارکوونکو ته په هغهٔ هېواد کې ورته معافیت ورکړي.

(۴) د هېواد په د ننه کې په عوایدو پورې د اړوندو لګښتونو توزیع د دې قانون او پر عایداتو باندې د مالیاتو د تعلیماتنامې د حکمونو مطابق صورت مومي.

ACKU

(۵) که چېرې په افغانستان کې غير مېشت شخص د غير مستقلې نمايندګۍ له لارې فعاليت وکړي، د نوموړې نمايندګۍ د ماليې وړ عوايد، د يوځ جلا او خپلواک حکمي شخصيت د عوايدو په توګه ټاکل کېږي او په لاندې ډول محاسبه کېږي:

۱- هغه ورکړې يا مبالغ چې د غير مېشت شخص د فعاليتونو په نورو برخو پورې اړه مومي، د دې قانون د ديارلسمې مادې په (۳) فقره کې د درج شوي حکم مطابق د ونډې ګټه ګڼل کېږي.

۲- د هغو ورکړو او مبالغو مجرايي چې د غير مېشت شخص په نورو ورکړو پورې اړه لري، د دې قانون د اتلسمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم مطابق مجاز نده.

۳- هغه لګښتونه چې د غير مستقلې نمايندګۍ يا د غير مېشت شخص د فعاليت د بلې برخې لخوا چې مستقيماً د نوموړې نمايندګۍ د ناخالصو عوايدو په ترلاسه کولو پورې مرتبط وي، صورت مومي، د خپلواک حکمي شخصيت د لګښتونو په توګه ګڼل کېږي.

<u>**د بهرنيو دولتونو او نړيوالو مؤسسو ماليات**</u>

**نهمه ماده:**

د بهرنيو دولتونو، نړيوالو مؤسسو او د هغو د غير مېشتو نورو کارکوونکو مالياتي مکلفيت، د هغو عوايدو پربنسټ چې له کورنيو سرچينو څخه يې ترلاسه کوي، د موافقه ليکونو، قرار دادونو او هغو پروتوکولونو مطابق چې پدې برخه کې يې د افغانستان له دولت سره عقد کړي دي، تثبيتېږي.

<u>**د مؤسسو مالياتي معافيت**</u>

**لسمه ماده:**

(۱) ترلاسه شوې اعانې او د هغو مؤسسو له لازمي فعاليت څخه لاس ته راغلي عوايد چې د لاندې شرايطو لرونکي وي، له ماليې څخه معاف دي:

۱- مؤسسه د نافذه قوانينو مطابق جوړه شوې وي.

۲- غير انتفاعي مؤسسه چې يوازې د ښوونيزو، کلتوري، ادبي او علمي يا خيريه چارو په منظور جوړه او فعاليت وکړي.

۳- تمويلوونکي، ونډه لرونکي او اړوند غړي يا کارکوونکي د دې فقرې په (۱ او ۲) جزء کې د درج شوې مؤسسې له ګټې څخه د فعاليت يا انحلال په وخت کې ګټه وانخلي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شويو مؤسسو د مالياتي فعاليتونو د معافيت ډول پر عايداتو باندې د مالياتو په تعليماتنامه کې تنظيمېږي.

ACKU

**د دولتي ادارو مالياتي معافيت**

**یوولسمه ماده:**

د ښاروالیو په شمول د دولتي ادارو او د هغو د نمایندګیو عواید پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع ندي.

دولتي تصدۍ لدې حکم څخه مستثني دي.

## دوه یم فصل

## د مالیې وړ عوایدو ټاکل

**اصطلاحګانې**

**دوولسمه ماده:**

د مالیې وړ عواید: هغه مبلغ دی چې د شخص، سهامي شرکت، محدودالمسئولیت شرکت یا نورو حکمي شخصیتونو له عوایدو څخه پدې قانون کې د درج شویو معافیتونو له مجرایي او د کسراتو له وضع کولو وروسته پاتې کېږي.

معافیت: د مالیه ورکوونکي له عوایدو څخه مجرایي ده چې د دې قانون د حکمونو مطابق هغۀ ته ورکو کېږي.

کسرات: د تولید لګښتونو او د عایداتو د لاس ته راوړلو او ساتلو لګښتونه دي چې له عایداتو څخه د هغو وضع کول د دې قانون د حکمونو مطابق مجاز دي.

هغه لګښتونه او تمامه شوې بیه چې مشخصاً د معافیت یا کسراتو په توګه ذکر شوي نه وي، د وضع کولو وړ ندي.

عملیاتي نګه زیان: هغه مبلغ دی چې پدې قانون کې له درج شوو مجراییو وروسته له عایداتو څخه زیات وي.

**د مالیې تابع عایدات**

**دیارلسمه ماده:**

(۱) لاندې لاسته راغلی عاید پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع دي:

۱- معاش، مزد، فیس او کمېشن.

۲- د سوداګریزو، صنعتي، ودانیزو او نورو اقتصادي فعالیتونو د معاملو ټول عواید.

۳- د منقول او غیر منقول ملکیت له پلورلو څخه ترلاسه شوي عواید.

۴- ټکټ پولي، د ونډې ګټه، کرایه، حق الامتیاز، جایزې، مکافات، د قرعې او بخششیو له درکه عواید.

۵- د تضامني شرکت له عاید څخه شریکه ونده.

۶- له کار، پانګي یا اقتصادي فعالیت څخه ترلاسه شوي نور عواید.

۷- نور هغه حالات چې په قانون کې تصریق شوي دي.

۸- نور هغه عواید چې په دې قانون کې اټکل شوي ندي.

(۲) د ونډې ګټه: د عوایدو هر ډول وېش دی چې د شرکت لخوا د پیسو، شتمنی یا ونډه والو ته د هغوی له ونډې سره د متناسبې هر ډول ګټې په شکل صورت مومي او لاندې موارد پکې شامل دي:

۱- هر ډول ملموسه او غیر ملموسه شتمني.

۲- په شرکت کې ونډه.

۳- له شرکت څخه په هر ډول پېرودنه کې تخفیف.

۴- ونډه والو ته پور.

۵- د یوۀ شرکت له هر ډول شتمنی څخه ګټه اخستل.

(۳) که چېرې د دې قانون په اتمه ماده کې درج، په افغانستان کې د غیر مېشت شخص غیر مستقله نمایندګی، غیر مېشت شخص یا هر بل شخص ته چې له هغې سره مرتبط وي، څه مبلغ ورکړي یا یې ورکړه ومني، نوموړی مبلغ د ونډې د ګټې په توګه ګڼل کېږي.

<u>**د مالیاتو غیر تابع عایدات**</u>

**څوارلسمه ماده:**

لاندې ترلاسه شوي مبالغ پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع ندي او د حقیقي او حکمي اشخاصو په اظهار لیک کې نه شاملېږي:

۱- د دولت لخوا بخششی، تحفي، انعامونه، جائزې او مکافات.

۲- هغه بخششی، تحفي، انعامونه، جائزې او مکافات چې د بهرنیو دولتونو، نړیوالو مؤسسو یا غیر انتفاعي مؤسسو لخوا د علمي، هنري، ادبي فعالیتونو، ټولنیز پرمختګ او نړیوال تفاهم د تقدیرولو په منظور ورکول کېږي.

۳- د معلوماتو د زیاتېدو یا د کفایت او مسلکي او فني ښوونو د اصلاح او ترقی په منظور سکالرشېپونه، فیلوشېپونه او نورې مرستې.

۴- د روغتیایي او ټکر (تصادم) له بیمي څخه عاید او د بېکارۍ د بیمي ګټې.

۵- د ژوند له بیمي څخه عاید چې له مړینې وروسته ورکول کېږي.

۶- له ټپ، ناروغی یا د حیثیت له اعادې څخه د راپیدا شوو زیانونو غرامات یا تلافي.

۷- استقراض.

۸- د شرکتونو په واسطه د ونډې د سندونو او د پور (قرضي) د سندونو له صادرولو څخه لاسته راغلی عاید.

۹- د کورنیو سهامي شرکتونو او نورو حکمي شخصیتونو د الحاق له لارې د شتمنی ترلاسه کول.

۱۰- د داین په واسطه د مدیون د ملکیت د حقوقو د سلبولو له لارې د منقولې او غیر منقولې شتمنی ترلاسه کول.

۱۱- له مدیونینو څخه د اصل پور ترلاسه کول.

۱۲- د دولتي او ښاروالیو د پور د سندونو ګټه.

۱۳- د دې قانون د حکمونو مطابق نور ترلاسه شوي مبالغ.

**<u>د احتراقی موادو مالیاتی معافیت</u>**

**پنځلسمه ماده:**

د غذایي موادو، احتراقي موادو او هغو جنسونو د بیې له درکه عواید چې تولیدوونکي شخص یایې د کورنی غړو هغه په مصرف رسولي یایې ترګټې اخستنې لاندې نیولي دي، پر عایداتو باندې له مالیاتو څخه معاف دي.

**<u>د غیر منقولو مالونو پر کرایی یا اجاری باندی مالیات</u>**

**شپاړسمه ماده:**

د غیر منقولو مالونو د کرایې یا اجارې له درکه عواید چې اساساً د سوداګرۍ یا صنعت او نورو اقتصادي فعالیتونو په منظور تر ګټې اخستنې لاندې نیول کیږي، پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع دی.

د کرنیزو او باغي ځمکو مالیه او د څارویو مالیه د خاص قانون تابع ده.

**<u>له معاشونو او مزدوریو څخه د مالیې د وضع کولو مکلفیت</u>**

**اوولسمه ماده:**

(۱) وزارتونه، اداري او نورې دولتي مؤسسې، تصدۍ، شرکتونه او خیریه مؤسسې مکلف دي پر معاشونو او مزدوریو باندې مالیه، د هغو د اجراء په وخت کې وضع او د دولت حساب ته یې ولیږدوي.

(۲) د دولتي کارکونکو د تقاعد حقوق پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع ندي.

## د مجرایۍ وړ لګښتونه

**اتلسمه ماده:**

(۱) د تولید د عادي او اړینو لګښتونو کسر او وضع کول او د حقیقي او حکمي اشخاصو د عوایدو لاسته راوړل او ساتنه په لاندې ډول مجاز دي، د مجرایي وړ دي، پدې شرط چې د مالي کال په ترڅ کې یې صورت موندلی وي یا د دې قانون د حکمونو مطابق د تېر دریو کلونو په یوه پورې اړه ولري:

۱- د حمل او نقل د بیمي او هغې ته د ورته لګښت په شمول د تولیدي شیانو یا د پلورنې او سوداګرۍ د لګښتونو تمامه شوې بیه.

۲- د سامانونو او لوازمو، احتراقیه موادو، برېښنا، اوبو، او نورو هغو اړینو خدمتونو بیه چې د عایداتو د لاسته راوړلو لپاره یا په کار او سوداګرۍ کې تر ګټې اخستنې لاندې نیول کېږي.

۳- هغهٔ مزد، معاش، کمېشن او فیس چې د کارکوونکو او مستخدمینو د خدمتونو په وړاندې ورکول کېږي.

۴- له پورونو، کار او سوداګرۍ څخه رامنځته شوې ټکټ پولې.

۵- د مالونو او هغهٔ ملکیت چې په کار یا سوداګرۍ کې اړین وي او تر ګټې اخستنې لاندې نیول کېږي، له درکه ورکړل شوې کرایه.

۶- د هغو مالونو او ملکیت چې په کار یا سوداګرۍ کې اړین وي او تر ګټې اخستنې لاندې نیول کېږي، د ترمیم، ساتنې او څارنې لګښتونه.

۷- منقول او غیر منقول مالونه د (کرنیزې ځمکې) په استثنې چې په کار او سوداګرۍ کې تر ګټې اخستنې لاندې نیول شوي یا د عایداتو د تولید په منظور د مؤلد په واک کې وي، استهلاک یې پر عایداتو باندې د مالیاتو د تعلیماتنامې مطابق، د مجرایي وړ دی، د مال یا ملکیت د استهلاک ټول کسرات د هغو له تمامې شوې بیې څخه زیات، مالیه ورکوونکي ته د مجرایي وړ ندي، که چېرې حقیقي یا حکمي شخص، د شتمنۍ د لاسته راوړولو په بدل کې له ورکړو څخه، د دې قانون د حکمونو د دوه اویایمي مادې د حکم مطابق، مالیه وضع نکړي، د هغهٔ د شتمنۍ د تمامې شوې بیې د هغې برخې د استهلاک چې له هغې څخه مالیه وضع شوې نده، د مجرایي مستحق نه ګرځي.

۸- هغه مالیه او محصول چې په خپل ذات کې د کار او سوداګرۍ لپاره لازمي لګښت یا د عایداتو په منظور د مال او ملکیت د لرلو لپاره لازمي لګښت او یا د عایداتو د تولید لپاره لازمي لګښت وي، پدې شرط چې مالیه یې د مالي کال په موده کې ورکړل شوې وي او یا ټوله شوې وي. هغه مالیات چې د دې قانون د حکمونو مطابق وضع شوی دي او هغه مالیات چې د کار او سوداګرۍ د لازمي لګښتونو له جملې څخه و نه شمېرل شي، د مجرایي وړ ندي، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول اټکل شوي وي.

۹- د دریو کلونو په ترڅ کې منقولو او غیر منقولو مالونو ته له حریق، زلزلې او نورو ناڅاپي پېښو څخه ورپېښ شوي زیانونه، پدې شرط چې بیه یې تثبیت وي او پدې هکله مثبته سند وړاندې او د بیمې د مؤسسو لخوا جبران شوي نه وي.

۱۰- پر عایداتو باندې د مالیاتو د تعلیماتنامې مطابق په کار یا سوداګرۍ کې له نه ترلاسه کېدو وړ پورونو څخه رامنځته شوی زیان.

۱۱- د هغهٔ حکمي شخصیت په واسطه چې د هېواد د نافذه قوانینو مطابق تأسیس شوی وي، په پیسو باندې د ورکړل شوې ونډې ګټه.

۱۲- د کار یا سوداګرۍ نور لګښتونو او د عایداتو د تولید په منظور د منقولو او غیر منقولو مالونو په واک کې د لرلو لګښتونه او په اړوندو تقنیني سندونو کې درج د عایداتو د تولید لګښتونه.

(۲) په لاندې مواردو کې د لګښتونو کسر او وضع کول غیر مجاز او د مجرایي وړ ندي:

۱- د بلنو او اعلانونو لګښتونو چې په اقتصادي او سوداګریزو فعالیتونو پورې مرتبط نه وي.

۲- هغه حکمي او حقیقي اشخاص چې د دې قانون د حکمونو مطابق د ونډې له ګټې، تکتاني، حق الامتیاز، کرایې، کمېشن، اجورې، معاشونو، د دې قانون په دوه اویایمه ماده کې له درج شوو معاملو او نورو ورته عوایدو څخه د مالیاتو په وضع کولو مکلف دي، خو د هغو مالیات یې وضع کړي نه وي.

۳- په افغانستان کې د یوهٔ غیر مستقل غیر مېشت شخص پر نمایندګۍ باندې هر ډول هغه خرڅونه چې غیر مېشت شخص یا ورسره کوم اړوند شخص ته ورکړل یا ومنل شي.

<u>**د نه مجرایي وړ لګښتونه**</u>

**نولسمه ماده:**

(۱) د لاندې اقلامو په شمول د شخصي لګښتونو کسر او وضع کول غیر مجاز دي، او د مجرایي وړ ندي:

۱- هغه ورکړې (تادیات) چې د مالیه ورکوونکي یایې د کورنۍ د ګټې او خوښۍ په غرض اشخاصو ته صورت مومي.

۲- د مالیه ورکوونکي یایې د کورنۍ د حویلۍ یا د اوسېدو د ځای د ساتنې او څارنې، تر میمولو، تعمیر، د مفروشاتو د اصلاح لګښتونه او نور لګښتونه او یا هر مال او ملکیت چې د مالیه ورکوونکي یایې د کورنۍ ګټې اخستنې ته مختص وي.

۳- پر شخصي دیونو باندې ټکټ پولي.

۴- د کار ځای ته د تلو راتلو لګښتونه او د شخصي مقصدونو لپاره د سفر لګښتونه.

۵- د ژوند، ټکر (تصادم) او روغتیا د بیمې او د مالیه ورکوونکي او د هغهٔ د کورنۍ د خوندیتوب په منظور، د نورو د ادعا پر خلاف د بیمې لګښت.

۶- د هغو مالونو او ملکیت چې په شخصي مقصدونو تر ګټې اخستنې لاندې نیول کېږي، د ساتنې په غرض د هر ډول بیمې لګښت.

(۲) په لاندې مواردو کې د لګښتونو کسر او وضع کول هم غیر مجاز دي، د مجرایي وړ ندي:

۱- د ځمکې، ودانیو او دوامدارو شیانو (ماشین، تجهیزاتو، ثابتي اثاثیې، مفروشاتو او د الحاقیي یا په هغې کې د اصلاحاتو تمام شوی لګښت) تمامه شوې بیه. د دې قانون د اتلسمې مادې د (۱) فقرې په (۷) جزء کې درج شوي لګښتونه او په درېیم فصل کې درج شوي حکمونه لدې امر څخه مستثنیٰ دي.

۲- په احتیاطي زیرمې زیاتول، د نه ترلاسه کېدو وړ پورونو او هغو ته په ورته مقصد زېرمه.

۳- د غیر مېشتو اشخاصو لخوا چې د افغانستان له کورنیو سرچینو څخه عواید ترلاسه کوي، بهرنیو دولتونو ته ورکړل شوي مالیات، خو دا چې پدې هکله ژمنلیک موجود وي.

__د کورنیو سرچینو عواید__

**شلمه ماده:**

(۱) د کورنیو سرچینو عواید په لاندې ډول دي:

۱- د پورونو ټکټانه، ګټه ایزې: (مفادي) تحویلی او پانګه اچونې.

۲- له هغو مېشتو شرکتونو څخه چې په افغانستان کې فعالیت کوي، د ونډې د ګټې عواید.

۳- د خدمتونو په وړاندې د معاش، حق الزحمې او له آزادو شغلونو څخه د مزدورۍ عواید.

۴- د کرایو او له منقولو او غیر منقولو مالونو څخه د حق الامتیاز عواید.

۵- د منقولې او غیر منقولې شتمنۍ د پلورنې عواید.

۶- د هر ډول بیمو په شمول له پلورنو څخه د کمېشن اخستل.

۷- د هېواد په د ننه کې د سوداګریزو فعالیتونو عواید.

۸- د هغو منقولو مالونو د پلورلو یا لېږدولو عواید چې په سوداګریزو یا استخدامي فعالیتونو کې له هغو څخه ګټه اخستل کېږي.

۹- د حق الامتیاز، فیس او کمېشن عواید چې د افغاني مېشت لخوا ورکول کېږي.

۱۰- د نفتي موادو، معدني موادو یا نورو سرچینو له اکتشاف او استخراج څخه راپیدا شوي عواید.

۱۱- د هېواد په د ننه کې د نورو عایداتي سرچینو عواید چې د دې قانون د حکمونو مطابق د مالیاتو تابع ګرځي.

(۲) د دې قانون د موخو د تطبیق په منظور د نهه ویشتمې او دېرشمې مادې په استثنئ د دې مادې د (۱) فقرې په (۵) جزء کې د (غیر منقولي شتمنی) اصطلاح په یوۀ شرکت یا بل بنسټ کې چې د شتمنی ارزښت یې اساساً د اشخاصو د مستقیم یا غیر مستقیم مالکیت په پایله کې ترلاسه کېږي، په لاندې توګه د هر ډول ګټه په بر کې نیوونکې ده:

۱- په افغانستان کې غیر منقوله شتمني.

۲- د هایدروکاربن، د کانونو د جواز او د کانونو د واک لیک د قراردادونو په شمول هغه ډول چې د دې قانون په دوولسم فصل کې تصریح شوي دي، په افغانستان کې د غیر منقولي شتمنی ګټه.

(۳) د دې قانون د موخو د تطبیق په منظور د هغه د نهه ویشتمې او دېرشمې مادې په استثنئ، د کانونو له استخراج څخه رامنځته شوي عواید چې د دې مادې د (۱) فقرې په (۱۰) جزء کې توضیح شوي دي، د هر ډول پلورنې او نورو مفادي معاملو په بر کې نیوونکې دي.

## درېیم فصل

## د شتمنۍ د پلورنې، تبادلې یا لېږدونې له درکه ګټه یا زیان

**<u>پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع ګټه</u>**

**یوویشتمه ماده:**

د ثابتو شتمنیو د پلورلو یا تبادلې له درکه ګټه او په کسب او سوداګرۍ کې پانګونه پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع ده.

**<u>د مالي کال د مالیې وړ ګټه</u>**

**دوه ویشتمه ماده:**

د سهامي شرکت یا محدودالمسئولیت شرکت د شتمنۍ د پلورلو یا تبادلې له درکه ترلاسه شوې ګټه، د هغهٔ مالي کال د مالیې وړ ګټه ده چې په ترڅ کې یې د شتمنۍ لېږدېدلو صورت موندلی وي.

**<u>د ملکیت له لېږدېدو څخه مالیه</u>**

**دروېشتمه ماده:**

(۱) د لاندې شتمنیو د پلورلو، تبادلې یا د ملکیت د نورو هر ډول لېږدېدو له درکه ترلاسه شوې ګټه، د مالیې وړ ګټه ګڼل کېږي:

۱- د سرقلفۍ په شمول د کسب یا سوداګرۍ پرېښودل.

۲- د تجهیزاتو، ماشین آلاتو، ودانیو، ځمکې (اراضۍ) او یا د هغو د اجزاوو په شمول فابریکه.

۳- هغه تجهیزات چې په سوداګریز کار او فعالیت او د اشخاصو او مالونو په حمل او نقل کې استعمالېږي.

۴- په سهامي یا محدودالمسئولیت شرکت کې ونډې.

(۲) له میراث څخه د پیدا شوې منقولې او غیر منقولې شتمنۍ له لېږدېدو څخه لاسته راغلې ګټه د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثنیٰ ده.

**<u>له مالیې وړ عوایدو څخه د لګښتونو کسر او وضع کول</u>**

**څلېریشتمه ماده:**

د شتمنیو د پلورلو، تبادلې او لېږدولو عواید (د میراث په استثنیٰ)، په بشپړ ډول رپوټ ورکول کېږي او لدې عوایدو څخه د مالیې وړ ګټې د ټاکلو په ترڅ کې لاندې اقلام د وضع کولو وړ دي:

ACKU

۱- د شتمنی او پلورل شوي پانګوني تمامه شوي بیه د هغهٔ مبلغ په کسر سره چې د استهلاک له درکه د هغو د ترلاسه کولو له نېټې څخه د معاملې تر وخته پورې د مجرایي وړ وي.

۲- د پلورنې لګښت د کمېشن، اعلانونو، د وثایقو د ټکټ په شمول او د شتمنیو د لېږدونې نور لګښتونه.

**د ورځې په بیه د مالیې تثبیتول**

**پنځه ویشتمه ماده:**

د منقولو او غیر منقولو شتمنیو د لېږدونې د هر ډول معاملې په ترڅ کې (د میراث په استثنئ) د ورځې بیه، د مالیې د سنجش او تثبیت بنسټ دی.

**پر مالیې ورکونې باندې د شتمنۍ د لېږدونې د ډول نه اغېزه**

**شپږ ویشتمه ماده:**

د منقولې او غیر منقولې شتمنی د لیږدونې ډول (د میراث په استثنې) له نوموړې لیږدونې څخه د ترلاسه شوې ګټې پر مالیې ورکونې باندې اغیزه نه لري.

**له مالیې وړ عوایدو څخه د را پیدا شوی زیان وضع کول**

**اووه ویشتمه ماده:**

د مالي کال په ترڅ کې په کسب یا سوداګرۍ کې د ګټې اخستنې وړ ثابتو شتمنیو له پلورنې یا تبادلې څخه راپیدا شوی زیان د مؤدي له مالیې وړ عوایدو څخه د وضع وړ دی، پدې شرط چې د نوموړې پلورنې او تبادلې ګټه اصلاً د مالیې وړ وي.

**له مالیې وړ عوایدو څخه د اضافي زیان نه وضع کېدل**

**اته ویشتمه ماده:**

د ونډو د سندونو له پلورنې یا تبادلې څخه را پیدا شوی زیان د وضع کولو وړ ندی، خو دا چې دغه زیان د ونډې د سندونو له پلورنې یا تبادلې څخه له ترلاسه شوې ګټې څخه چې په عین کال کې یې صورت موندلی دی راپیدا شوی وي. هغه ګټه چې پدې ډول له ترلاسه کېږي له هغهٔ زیان څخه چې له دغه دول معاملې څخه عایدېږي، زیاته وي، اضافګي مبلغ د مالیې تابع دی، خو که دغه زیان له ګټې څخه اضافه وي، د زیان اضافګي مبلغ د موضوعي وړ ندی.

**د شتمنۍ د ارزښت له زیاتېدو څخه د مالیې سنجش**

**نهه ویشتمه ماده:**

د شتمنی د ارزښت د زیاتېدو د مالیې د تثبیت او سنجش ډول په لاندې توګه دی:

۱- د دې قانون په درویشتمه ماده کې درج شوې ګټه چې په (۱۸) میاشتو یا له هغې څخه په زیاتو موده کې د شخص ملکیت وي، د لاندې یوهٔ یا څو شرطونو په لرلو سره تثبیت او سنجول کېږي:

- لېږدېدنې (د میراث په استثنې) د پلورنې په دول صورت نه وي موندلی.

- لېږدول شوې شتمني، پانګه ایزه شتمني وي.

- شتمنی، د پلورنې یا د کسب او سوداګری د انحلال په ترڅ کې لېږدول شوې وي.

۲- د مالي کال په ترڅ کې د شخص په عایداتو باندې مالیات چې د دې مادې په (۱) جزء کې له درج شویو شرایطو څخه د یوهٔ مطابق ولېږدول شي، د دې مادې په (۳) جزء کې درج له موضوعه مخصوص نرخ سره له ټولو سرچینو څخه د هغهٔ د مالیې وړ عوایدو له حاصل ضرب څخه عبارت دي.

۳- پدې ماده کې درج موضوعه مخصوص نرخ په لاندې ډول ترلاسه کېږي:

- د شتمنۍ له لېږدېدو څخه ترلاسه شوې ګټه (د میراث په استثنې)، د هغو کلونو پر شمېر باندې تقسیمېږي چې شتمني د هغهٔ په ملکیت کې وي.

- کلنۍ متوسطه ګټه یا لدې تکلارې څخه ترلاسه شوې ګټه له مالیې وړ نورو عوایدو سره جمع او د دې قانون په څلورمه ماده کې د درج شوي جدول د نرخ مطابق، سنجش او ترلاسه شوې (حاصله) مالیه پر هغهٔ مبلغ باندې تقسیمېږي چې سنجش پرې شوی دی، مطلوب نرخ تثبیتوي، که چېرې مطلوب نرخ په سلو کې له دوو څخه لږ وي، په هغهٔ صورت کې د تطبیق وړ نرخ په سلو کې دوه دی.

**د منقولو او غیر منقولو مالونو د پلورنې مالیات**

**دېرشمه ماده:**

(۱) د دې قانون په درویشتمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو سره، د هغو مالونو بیه چې د حقیقي شخص لخوا د پلورنې یا د منقولو او غیر منقولو مالونو د لېږد له لارې ترلاسه کېږي، د ملکیت د لېږدېدو په وخت کې پر عایداتو باندې د مالیاتو په عوض، په سلو کې د یوې مالیې د ورکړې تابع ګرځي.

(۲) د دې قانون په درویشتمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو سره، د هغو مالونو بیه چې د خرڅلاو یا د منقولو مالونو د لېږد له لارې د حکمي اشخاصو په واسطه لاسته راځي، پر عایداتو باندې د مالیاتو په عوض د لېږدېدو په وخت کې په سلو کې یو مالیې د ورکولو تابع ګرځي، دغه ډول مالیات مخکې ورکړه (پېش پرداخت) ګڼل کېږي او په مالیه کې د بېلانس او اظهارنامې په وړاندې کولو سره مجرایي ورکول کېږي.

# څلورم فصل

## شرکتونه

<u>**اصطلاحګاني**</u>

**یو دېرشمه ماده:**

(۱) شراکت: د دوو یا له دوو څخه د زیاتو اشخاصو یووالی (اتحاد) دی چې د اړوندې اساسنامې مطابق په ګډه سره کار او سوداګري کوي او ګټه یا زیان یې ویشي.

(۲) شریک: هغه شخص دی چې په شرکت کې ونډه ولري.

(۳) د شراکت اساسنامه: د قواعدو ټولګه ده چې شریکانو هغه منلي او پر بنسټ یې شرکت اداره کوي.

(۴) تضامني شرکت: هغه شرکت دی چې له شریکانو څخه هر یو په انفرادي یا ټولیزه توګه د شرکت د ټولو پورونو او دیونو په ورکړه مکلف دي.

(۵) ګډ تضامني شرکت: هغه شرکت دی چې یو یا څو شریکان یې د شرکت د پورونو او دیونو په نسبت د تضامني او غیر محدود مسئولیت لرونکي وي او پاتې شریکان، په شرکت کې د هغوی د ونډې تر اندازې پورې د محدود مسئولیت لرونکي وي.

(۶) محدودالمسئوولیت شرکت: هغه شرکت دی چې شریکان یې منفرداً د شرکت د پورونو او دیونو په نسبت مسئول نه وي او د هر شریک مسئولیت په شرکت کې د هغهٔ د ونډې تر اندازې پورې محدودوی.

(۷) سهامي شرکت: هغهٔ شرکت دی چې پانګه یې ټاکلې او په ونډو وېشل شوې وي او د هر شریک د مسئولیت اندازه د هغهٔ د ونډې تر اندازې پورې محدوده وي.

<u>**پر محدودالمسئولیت او تضامنی مختلطو شرکتونو باندی د تطبیق وړ حکمونه**</u>

**دوه دېرشمه ماده:**

(۱) محدودالمسئولیت شرکت، د سهامي شرکتونو په هکله د دې قانون د تطبیق وړ حکمونو تابع دی.

د دې قانون په منظور، د دغه ډول شرکت شریکان، ونډه لرونکی او د ګټې وېش ئې، د ونډې ګټه ګڼل کېږي.

(۲) تضامني مختلط شرکت، د تضامني شرکتونو په هکله د دې قانون د تطبیق وړ حکمونو تابع دی.

**د تضامني شرکت مالیات**

**دري دېرشمه ماده:**

تضامني شرکت د حکمي شخصیت په توګه پدې قانون کې درج پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع ندی.

شریکان د حقیقي اشخاصو په توګه په انفرادي ډول پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع دي.

د تضامني شرکت عایدات د شریکانو د انفرادي عایداتو په صورت چې د هغو هر یو مکلف دی د شرکت له عایداتو څخه خپله ونډه په خپلو د مالیې وړ عوایدو کې داخله کړي، پر عایداتو باندې د مالیاتو د ورکړې تابع دي.

**دنګه (خالصو) عوایدو ټاکل**

**څلور دېرشمه ماده:**

تضامني شرکت مکلف دی هر کال ټولو ترلاسه شوو مبالغو، اړوندو لګښتونو او ورکړو (تأدیاتو) څخه رپوټ ورکړي او خپل خالص عواید په انفرادي توګه وټاکي.

شرکت مکلف دی په جلا ډول د هر شریک له ونډې څخه په لاندې مواردو کې رپوټ ورکړي:

۱- خالصه ګټه یا خالص زیان.

۲- د مالونو او منقول او غیر منقول ملکیت د پلورنې یا تبادلې له درکه ګټه یا زیان.

۳- معاش، ټکټ پولې، د ونډې ګټه، پېشکي او هغو ته ورته.

**د ترلاسه شوو مبالغو وېش**

**پنځه دېرشمه ماده:**

د تضامني شرکت ترلاسه شوي مبالغ، لګښتونه او خالصه ګټه داسې ګڼل کېږي چې په اړونده اساسنامه کې د درج شوو شرایطو مطابق، د شریکانو په واسطه وېشل شوي دي.

ACKU

## پنځم فصل

## د محاسبې قواعد

**د سندونو ترتیبول او ساتنه**

**شپږ دېرشمه ماده:**

د مالیې ور عوایدو لرونکي حقیقي او حکمي اشخاص مکلف دي د خپلو منقولو او غیر منقولو مالونو او عوایدو ټول سندونه او دفترونه او د معاملو صورت حساب په اړوند مالي کال کې ترتیب او وساتي او د غوښتني په صورت کې یې د مالیې وزارت د اړوندو مؤظفینو په واک کې ورکړي.

**د محاسبې وروستۍ طریقه**

**اووه دېرشمه ماده:**

سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونه مکلف دي خپل عواید د محاسبې د وروستۍ طریقې په واسطه چې عواید او لګښتونه کله چې د ورکړې ور ګرځي، په پام کې نیسي، تثبیت کړي.

**د محاسبې نقدي طریقه**

**اته دېرشمه ماده:**

مالیه ورکوونکی مکلف دی، خپل د مالیې ور عواید د محاسبې د نقدي طریقې مطابق، هغه وخت چې د عوایدو او لګښتونو ورکړه صورت مومي، تثبیت کړي. مالیه ورکوونکی کولای شي د مالیې وزارت په موافقه د خپلو عوایدو د تثبیت لپاره وروستۍ طریقه هم وټاکي. سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونه لدې امر څخه مستثني دي، د استهلاکاتو وضع پر عایداتو باندې د مالیاتو د تعلیماتنامې مطابق صورت مومي.

**د سندونو او دفترونو ډول او محتوی**

**نهه دېرشمه ماده:**

د مالیې وزارت کولای شي پر عایداتو باندې د مالیاتو د سالمې ادارې، د واقعي عوایدو د تثبیت او له هغو څخه د سم رپوټ د وړاندې کولو په منظور، د مالیاتو ورکوونکي د سندونو او دفترونو ډول او محتوي تثبیت کړي.

**د کال آخره موجودي**

**څلوېښتمه ماده:**

اجناس، محصولات او هغه مواد چې په کار او سوداګرۍ کې تر ګټې اخستنې لاندې نیول کېږي، د هر مالي کال په آخر کې موجودې کېږي او بیه ایښودنه یې د تمامې شوې بیې یا د بازار د بیې (هره یوه چې لږ وي) پر بنسټ صورت مومي.

هغه ماليه ورکوونکی چي په صنايعو، سوداګری يا په نورو کارونو بوخت وي، مکلف دی د خپلو اجناسو، محصولاتو او اړوندو موادو موجودي د ماليي وزارت د ترتيب شوې کړنلارې مطابق اجراء کړي.

**<u>د سواګريزو دوو يا زياتو مؤسسو د عوايدو تثبيت</u>**

**يو څلوېښتمه ماده:**

په هغهٔ صورت کې چې دوه يا زياتي سوداګريزې مؤسسي يا اقتصادي فعاليتونه، په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه د عين حقيقي يا حکمي اشخاصو ملکيت وي يايي تر تصرف لاندې وي، د ماليي وزارت کولای شي، د ماليي وړ عوايدو د معلومولو او له تېښتي (فرار) څخه يې د مخنيوي په مقصد، ترلاسه شوی مبلغ، کسرات، اعتبارات يا مجرايي ګاني د هغو ترمنځ تقسيم اوو وېشي.

## شپږم فصل

## د سهامي او محدودالمسئوليت شرکتونو په هکله خاص حکمونه

**<u>د عملياتي زيان مجرايي</u>**

**دوه څلوېښتمه ماده:**

(۱) په هغهٔ صورت کې چې سهامي شرکت يا محدودالمسئوليت شرکت په يوهٔ مالي کال کې عملياتي خالص زيان ولري، دغه زيان په دريو راوروسته کلونو کې او هر کال د زيان درېيمه (ثلث) برخه د هغهٔ له ماليي وړ عوايدو څخه مجرايي ورکول کېږي. د دې قانون د اووه څلوېښتمي مادې په (۴) فقره کې درج شوی حکم لدې امر څخه مستثني دی.

(۲) که چېرې په هېواد کې مېشت شرکت له هغي سرچيني څخه چي له افغانستان څخه بهر فعاليت لري د عوايدو د ترلاسه کولو په منظور، خپل د ماليي وړ عوايد د دې قانون په دوولسمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق يا د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عملياتي خالص زيان د هغو فعاليتونو له په پام کې نيولو سره چې په افغانستان کې د ننه له يوې سرچيني څخه د عوايدو د توليد په منظور او د هغهٔ فعاليتونه چي له افغانستان څخه په بهر کې د عوايدو د توليد په منظور وي، په جلا توګه ثبت او وړاندې کړي، له هغو فعاليتونو څخه عملياتي خالص زيان چې له افغانستان څخه په بهر سرچينه کې رامنځته کېږي، د هماغي بهرنی سرچينی له عوايدو څخه د کسر وړ دی او لېږدول کېږي.نوموړی زيان له هغو ماليي وړ عوايدو څخه چې سرچينه يې په افغانستان کې وي، د کسر وړ ندی.

<u>**ونډو لرونکو ته د شرکت د شتمنيو وېشل**</u>

**دري څلوېښتمه ماده:**

د ونډه لرونکي یا شریک په واسطه د شرکت ونډه لرونکو یا شریکانو ته د سهامي یا محدودالمسئولیت شرکت د شتمنیو وېش د ونډې د تمامې شوې بیې د تنقیص یابې په پانګه کې د تنقیص په توګه ګڼل کېږي. د ونډې ګټه او د انحلال د وخت ونډه لدې امر څخه مستثني ده.

<u>**د شرکت د انحلال پر وخت شتمنيو وېش**</u>

**څلور څلوېښتمه ماده:**

د ونډه لرونکي یا شرکت په واسطه د سهامیي یا محدودالمسئولیت شرکت د انحلال په وخت کې د شتمنیو وېش، د دې قانون د درېیم فصل د مندرجاتو مطابق د شتمنیو د پلورنې یا تبادلې د وجهې په توګه ګڼل کېږي.

مبلغ یا نورې وېشل شوې شتمنی د ورځې د نرخ پر بنسټ منفي د ونډه لرونکي د ونډې تمامه شوې بیه یا د شرکت د پانګې مبلغ (چې وېش له هغه څخه صورت مومي)، د ونډه لرونکي یا شریک له مالیې وړ عوایدو څخه عبارت دي.

د جزئي یا کلي انحلال په صورت کې د سهامي یا محدودالمسئولیت شرکت د شتمنیو وېشل، د شرکت د ګټې یا زیان په توګه نه ګڼل کېږي.

<u>**د پيسو يا نورو شتمنيو وېش**</u>

**پنځه څلوېښتمه ماده:**

پیسې یا نورې هغه شتمنی چې د سهامي یا محدودالمسئولیت شرکت په واسطه له ترلاسه شوو عوایدو څخه ونډه لرونکو یا شریکانو ته وېشل کېږي، د ونډې ګټه ګڼل کېږي، لاندې حالات پکې شامل دي:

۱- د هغهٔ سهامي یا محدودالمسئولیت شرکت په واسطه چې د هېواد د قوانینو مطابق جوړ شوی له ترلاسه شوو عوایدو څخه په پیسو باندې د ورکړل شوې ونډې ګټه، د هغهٔ شرکت له عوایدو څخه چې ورکوي یې، د دې قانون د اتلسمې مادې د (۲) فقرې د (۲) جزء په استثني، د مجرایي وړ ده.

۲- که چېرې د ونډې ګټه، د ونډې یا پور یا هغو ته د ورته سندونو په ډول ورکړل شي، د سهامي یا محدودالمسئولیت شرکت له عایداتو څخه د وضع کولو وړنده.

۳- د هغې ونډې ګټه چې د پیسو په ډول ورکول کېږي، د ترلاسه کېدو په وخت کې، د ترلاسه کوونکي د مالیې وړ عایداتو په توګه ګڼل کېږي. د ونډې هغه ګټه چې د پور د ونډو د سندونو یا هغو ته د ورته په ډول ورکول کېږي، د ترلاسه کېدو په وخت کې، د ترلاسه کوونکي د مالیې وړ عوایدو په توګه نه ګڼل کېږي.

ACKU

## د ماليې وضع کول

**شپږ څلوېښتمه ماده:**

(۱) هغه انتفاعي یا غیر انتفاعي حکمي اشخاص چې د هېواد د قوانینو مطابق جوړ شوي وي، په لاندې توګه پر عایداتو باندې د مالیاتو په وضع کولو مکلف دي:

۱- د دې قانون د حکمونو مطابق د اړوندو کارکوونکو له معاشونو او مزدوریو څخه د مالیې وضع کول.

۲- د دې قانون د حکمونو مطابق له ټکټ پولي، د ونډې له ګټې، حق الامتیاز، جایزو، مکافاتو، د قرعې او بخششي ګانو، له درکه عوایدو حق الخدمت څخه په سلو کې د شلو مالیې وضع کول.

(۲) په دې ماده کې درج وضع شوې مالیه د راتلونکې میاشتې تر لسمې نېټې پورې دولت ته ورکول کېږي.

(۳) حکمي اشخاص چې د دې قانون د حکمونو مطابق له معاشونو او مزدوریو څخه د مالیې وضع کول اجراء کوي، مکلف دي د مالي کال په تېرېدو سره د راتلونکي کال د لومړۍ میاشتې په ترڅ کې هغو اشخاصو ته چې مالیه یې له معاش او مزد څخه وضع شوېده، په هغهٔ ترتیب سره چې د مالیې وزارت یې تجویز وي، د مالیې د وضع کولو، د معاش د اندازې او په نورو مواردو کې له جزئیاتو څخه په لیکلې توګه خبر ورکړي.

(۴) هغه شخص چې مالیه وضع کوي، مکلف دی د میاشتنیو ورکړو (تأدیاتو) او د مالیې د وضع کولو جزئیات د مالیې وزارت ته د راتلونکې میاشتې تر لسمې نېټې پورې په هغهٔ ترتیب سره چې د مالیې وزارت یې تجویز وي، رپوټ ورکړي.

(۵) که چېرې له یوې سرچینې څخه د مالیې صحیح مقدار د دې قانون د حکمونو مطابق وضع شوی وي، داسې ګڼل کېږي چې پر عایداتو باندې مالیات بشپړ رفع شوي دي.

(۶) هغه حقیقي اشخاص چې له یوې څخه له زیاتو سرچینو څخه عواید ولري، د اظهار لیک په ډکولو او وړاندې کولو مکلف دي، مالیه یې د دې قانون د حکمونو مطابق سنجول کېږي او د مخه وضع شوي مبلغ له مالیاتو څخه د مجرایې وړ ګڼل کېږي.

## د استهلاک او زیان مجرایي

**اووه څلوېښتمه ماده:**

(۱) هغه منظور شوي تشبثات چې د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې د قانون د حکمونو مطابق ثبت او راجستر شوي وي، د ۱۳۸۳ کال د چنګاښ له لومړۍ نېټې څخه په لاندې ډول د ودانیو او تجهیزاتو د استهلاک د مجرایي مستحق ګڼل کېږي. د اتلسمې مادې د (۱) فقرې په (۷) جزء کې درج شوی حکم لدې امر څخه مستثنې دی:

۱- د ودانۍ لپاره، څلور کاله موده.

۲- د تجهيزاتو لپاره، دوه کاله موده.

(۲) د ودانيو او تجهيزاتو مجاز استهلاک په هر مالي کال کې په مساويانه توګه سنجش او مجراء ورکول کيږي. که چيرې د تشبث ثابته پانګه، د مالي کال له نيمايي څخه کمه موده د هغۀ په واک کې وي، په هماغه کال کې د کلني استهلاک له نيمائي مجرايي څخه ګټه اخستی شي او په هغۀ صورت کې چې ثابته پانګه له شپږو مياشتو څخه زيات د هغۀ په واک کې پاتې شي د استهلاک له بشپړې مجرايي څخه په هماغۀ کال کې برخمن کيږي.

(۳) هغه منظور شوي تشبثات چې د مالي کال په اوږدو کې له عملياتي خالص زيان سره مخامخ شوي وي، د قانوني دفتر او سندونو په کتنې سره، د دې قانون په دوه څلويښتمه ماده کې د درج شوو تشبثاتو په استثني د ۱۳۸۳ کال د چنګاښ له لومړۍ څخه په هر را وروسته کال کې د رامنځته شوي زيان تر بشپړ رفع کېدو پورې، له خپلو ماليې وړ عوايدو څخه مجرايي ترلاسه کوي. د منظورو شوو تشبثونو د وارده زيان محاسبه د دې قانون په دوه څلويښتمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق صورت مومي. پدې قانون کې د درج شوي استهلاک لګښتونه او د مالياتي معافيت په ميعاد (مودې) پورې اړوند نور لګښتونه او له منظورۍ د مخه ميعاد لګښتونه، د عملياتی خالص زيان په محاسبه کې نه شامليږي.

## اووم فصل

## د بيمې د شرکتونو ماليات

<u>**د بيمې د شرکتونو په هکله د تطبيق وړ حکمونه**</u>

**اته څلويښتمه ماده:**

د دې فصل په موادو کې درج شوي حکمونه د بيمې د شرکتونو په هکله د تطبيق وړ دي، پدې شرط چې د لاندې شرطونو لرونکي وي:

۱- د افغانستان د قوانينو مطابق د سهامي شرکتونو په ډول جوړ شوي وي.

۲- د شرکت فعاليت، د بيمې له يوې ساحې څخه زيات لکه د پيښو او زيان بيمه، د ژوند بيمه او نورو بيموي فعاليتونو په شان په بر کې ولري.

۳- د خپلې بيمې د هرې ساحې او فعاليتونو لپاره د جلا محاسبې او زېرمې لرونکي وي.

<u>**د بيمې د شرکتونو پر عايداتو باندې د مالياتو تابع عوايد**</u>

**نهه څلويښتمه ماده:**

د بيمې د شرکتونو لاندې عوايد پر عايداتو باندې د مالياتو تابع دي:

۱- د ټکټ پولی، د ونډې د ګټې، د کرايي عوايد او نور هغه عوايد چې له پانګونې او ملکيت څخه لاسته راځي.

۲- له غیر بیمې فعالیتونو څخه ترلاسه شوي عواید.

۳- د حریق، غلا، د ناروغۍ د پېښو، زیانونو یا هغۀ زیان په مقابل کې د بیمې له حق څخه ترلاسه شوي عواید چې بیمه ئي د یوې ټاکلې مودې لپاره وي او بیمه کېدونکی ونه کړای شي د هغې د مودې له تېرېدو وروسته پولي ادعا وکړي.

۴- له پانګه ایزو معاملو څخه ترلاسه شوي عواید.

**<u>د بیمه شوو مالیاتي معافیت</u>**

**پنځوسمه ماده:**

د بیمې هغه حق چې د لیکلي قرارداد د عقد په موجب اخستل شوی او بیمه شوو یا د هغو منتفعو اشخاصو ته د مشخصې ګټې وروستۍ ورکړه ایجاب کړي، پر عایداتو باندې له مالیاتو څخه معاف دی.

**<u>د بیمې د شرکتونو د نه مجرایي وړ ورکړې</u>**

**یو پنځوسمه ماده:**

په بیمې پورې اړوند لاندې لګښتونه او ورکړې چې د بیمې حق یې د دې قانون په پنځوسمه ماده کې د درج شوي حکم شوي مطابق له مالیاتو څخه معاف دي، د مجرایي وړ ندي:

۱- د بیمې د صادرېدو کمېشن او نور لګښتونه.

۲- مشترکینو یا نورو ذینفعو اشخاصو ته یې د بیمې د ګټو ورکړه.

**<u>د بیمې د شرکتونو د مجرایي وړ ورکړې</u>**

**دوه پنځوسمه ماده:**

(۱) د بیمې د شرکتونو لاندې لګښتونه او ورکړې د هغو له عوایدو څخه د مجرایي وړ دي:

۱- له هغې بیمې څخه را پیدا شوی ورکړل شوی مبلغ چې د بیمې حق د هغۀ له درکه د مالیاتو تابع وي.

۲- کمېشن او د صادرېدو نور لګښتونه چې د بیمې حق د هغو له درکه د مالیاتو تابع وي.

۳- د بیا بیمې لګښتونه چې د بیمې حق د هغو له درکه د مالیې تابع وي.

۴- د ادعاګانو د زیان د جبران په غرض په زېرمو کې زیاتوالی، پدې شرط چې هغه ډول زیرمې د حمل او نقل د بیمې د حق له سل په سلو کې او د هغو زیانونو او پېښو د امکاناتو د بیمې د حق له پنځوس په سلو کې څخه چې د مالي کال په اوږدو کې لاسته راغلي، تجاوز ونکړي.

۵- د هغې بیمې د عملیاتو د زیان په زېرمو زیاتېدل چې په هغې پورې د بیمې اړوند حق د مالیې تابع وي، پدې شرط چې دغه زېرمې د نوموړې بیمې په ساحه کې د پانګې اچول شوي مبلغ له دوه چنده څخه تجاوز ونکړي.

۶- د دې قانون په دوه یم فصل کې درج شوي د کار او عملیاتو نور اړین لګښتونه او د دې قانون په یو پنځوسمه ماده کې درج شوي لګښتونه لدې امر څخه مستثنې دي.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې په (۴ او ۵) جز کې له درج شویو زېرمو څخه لېږدو نه یا ورکړه، په اړوند مالي کال کې د مالیې وړ عواید جوړوي. له ادعاګانو یا حقیقي زیانونو یا په پیسو باندې د ونډې له ګټې څخه را پیدا شوې لېږدونه او ورکړه له دې امر څخه مستثنې ده.

<u>**د بیمې د بهرنیو شرکتونه د مالیې وړ عوایدو تثبیت**</u>

**دري پنځوسمه ماده:**

د بیمې له هغهٔ حق څخه را پیدا شوي عواید چې د بیمې د بهرني شرکت یا د بیا بیې شرکت په لاس ته راځي، په لاندې توګه پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع دي:

۱- د بیمې د هغهٔ حق د مبلغ اندازه چې شرکت یې د مالي کال په ترڅ کې د هېواد له د ننه څخه لاس ته راوړي، معلومه شي.

۲- د بیمې د هغهٔ حق د ټول مبلغ اندازه چې شرکت د مالي کال په ترڅ کې له مختلفو هېوادونو څخه لاس ته راوړي دي، وټاکل شي.

۳- په نورو هېوادونو کې له خپلو فعالیتونو څخه د شرکت د خالصو عوایدو اندازه پر عایداتو باندې د مالیاتو او د ونډې د ګټې له ورکړې د مخه، تثبیت شي.

۴- په (۱) جز کې درج شوي ټاکلی مبلغ په (۲) جز کې پر درج شوي ټاکلي مبلغ باندې تقسیم، په (۳) جز کې له درج شوي ټاکلي مبلغ سره ضرب، د مالیې له وړ عوایدو څخه عبارت دي.

## اتم فصل

## د بانکونو، سهامي شرکتونو، پور او پانګې اچونې مالیه

**د مالیاتو د ورکړې تابع ګټه**

**څلور پنځوسمه ماده:**

له پانګه بیزو معاملو څخه د ونډې د ګټې، ټکټ پولی، تخفیف یا تنزیل، کرایې، فیس، کمېشن او ګټې له درکه د بانکونو، سهامي شرکتونو د پور او پانګې اچونې عایدات، پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع دي.

**د اړینو لګښتونو مجرائي**

**پنځه پنځوسمه ماده:**

د دې قانون په څلور پنځوسمه ماده کې له درج شویو عوایدو څخه د کار اړین لګښتونه د مجرایي وړ دي.

د پانګه بیزو معاملو له درکه زیانونه او د پورونو او په پیسو باندې د ونډې د ګټې د ورکړې له درکه د زیانونو په وړاندې پر زېرمې باندې زیاتوالی هم د مجرایي وړ دی.

**پر زېرمې باندې زیاتوالی**

**شپږ پنځوسمه ماده:**

د پورونو له درکه د زیانونو په وړاندې پر زېرمې باندې زیاتوالی په هغه شرط د مجرایي وړ دی چې د مالي کال په پای کې د نه ورکړل شوو اصلو پورونو په سلو کې له پنځه ویشتو څخه تجاوز ونکړ. (له هغې پرته چې د زېرمې په موخه وي) له نوموړې زېرمې څخه هره لېږدېدنه یا ورکړې د هغه مالي کال چې پکې لېږدېدنې یا ورکړو صورت موندلی دی، د مالیې د ورکړې وړ عایدات جوړوي.

**په ارزښت کې زیاتوالی یا لږوالی**

**اووه پنځوسمه ماده:**

د شتمنی په توګه د ونډې، پور او هغو ته د ورته سندونو په ارزښت کې زیاتوالی یا لږوالی د دې قانون د حکمونو مطابق، تر هغه وخته پورې چې د پلورنې یا تبادلې له لارې یې ځانته د واقعیت څېره نیولې نه وي، د اعتبار وړ ندی. کله چې ګټه یا زیان د نوموړې شتمنی د پلورنې یا تبادلې له لارې تحقق ومومي، دغه ګټه یا زیان د هغه کال عایدات یا زیان جوړ وي چې پکې پلورنې یا تبادلې صورت موندلی دی.

## نهم فصل

## د عایداتو له سرچینو څخه د مالیاتو وضع کول

**د مالیې وضع کول او لیږدول**

**اته پنځوسمه ماده:**

هغه حقیقي او حکمي انتفاعي او غیر انتفاعي اشخاص چې د کارکوونکو شمېرېې د کال په یوې میاشتې کې دوه تنه یا له هغو څخه زیات وي او ټول وزارتونه، تصدی، ښاروالی او نورې دولتي اداري مکلف دي د دې قانون په څلورمه ماده کې د درج شویو حکمونو له په پام کې نیولو سره، له ورکړې وړتولو معاشونو او مزدوریو څخه مالیه وضع او د دولت د عوایدو حساب ته یې ولېږدوي.

**د کورونو او ودانیو مالیه**

**نهه پنځوسمه ماده:**

(۱) هغه کورونه او ودانی چې د سوداګریزو یا کاري دفترونو د فعالیتونو د سرته رسولو په منظور، حقیقي یا حکمي اشخاصو ته په کرایه ورکول کېږي، په لاندې ډول د هغو له کرایې څخه د موضوعي مالیو د ورکړې تابع دي:

۱- که چېرې میاشتنی کرایه له لسو زرو افغانیو څخه تر سلو زرو افغانیو پورې وي، په سلو کې لس.

۲- که چېرې میاشتنی کرایه له سلو زرو افغانیو څخه زیاته وي، په سلو کې پنځلس.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو کورونو او ودانیو مستأجرین مکلف دي د عوایدو مالیه د هغې کړنلارې مطابق چې د مالیې وزارت په واسطه وضع کېږي، ورکړي.

(۳) پدې ماده کې درج شوې مالیه چې د مؤجر د مالیاتي مسئولیت په توګه د مستأجر په واسطه وضع کېږي، هغه کرایه ګڼل کېږي چې مؤجر ته ورکړل شوې ده. دغه مالیه د مؤجر د مالیاتي مسئولیت د مخه ورکړه حسابېږي او د مالیې د ورکړې په وخت کې مجرایي ورکول کېږي. د کرایې د ورکړې په اړه د مؤجر او مستأجر ترمنځ د شخړې د رامنځته کېدو په صورت کې، مستأجر کولای شي د وضع شوو مالیاتو سند د کرایې د ورکړې د سند په توګه اړوندو مقاماتو ته وړاندې کړي.

(۴) هغه ورکړې چې له جایداد څخه د ګټې اخستنې په بدل کې ترلاسه کېږي، لاندې ډولونه پکې شامل دي:

- هر ډول پولي واحد، مالونه، خدمتونه او هر ډول ګټه چې شخص یا اشخاص یې د ملکیت د په کرایې ورکولو له لارې لاسته راوړي.

- د هغو ترمیماتو او بیاجوړوني لګښتونه چې د مستأجر په لګښت، په ملکیت کې صورت مومي.

(۵) په هغهٔ صورت کې چې د ملکيت کرايه د هغهٔ له واقعي ارزښت څخه لږ وي، د ماليي وزارت کولای شي کرايه د ورځې د نرخ مطابق د واکمن هيئت په واسطه تثبيت کړي.

(۶) د معاملو د لاربښووني دفترونه مکلف دي د قرار داد د عقدولو په وخت کې د منعقده قرارداد يوه کاپي د ماليي وزارت ته ورکړي، د معاملو د لاربښووني لخوا د ځند يا په سندونو کې د تزوير په صورت کې، د ماليي وزارت د څېړنې په منظور، موضوع رسماً د عدليي وزارت ته خبر ورکوي.

(۷) که چېرې ثابته شي چې کرايه د ورځې له نرخ څخه په سلو کې شل لږ تثبيت شوې ده، د دې مادې د (۵) فقرې د حکم له په پام کې نيولو سره اجراآت صورت مومي.

د کرايي د تثبيت په هکله د اختلاف په صورت کې، مؤجر مکلف دی ثابته کړي چې د ماليي وزارت لخوا ټاکل شوی نرخ صحت نه لري، دغه حکم هغه وخت د تطبيق وړ ګڼل کېږي چې د ماليي وزارت داسې دلايل او سندونه لاسته راوړي چې په قرارداد کې د درج شوې کرايي مقدار له هغهٔ څه څخه لږ دی چې ورکول کېږي. پدې صورت کې د ماليي وزارت کولای شي مؤجر د هغهٔ مبلغ په دوه چنده چې په قرارداد کې پټ شوی دی، د نغدي مجازاتو په ورکړه مکلف کړي.

(۸) که چېرې د ورکړې وړ ماليه له ټاکلې نېټې وروسته په پنځلسو ورځو کې ورنکړل شي، لاندې اجراآت صورت مومي:

۱- له جايداد څخه د ګټې اخستنې په بدل کې د پيسو د ترلاسه کولو لپاره، د کرايي په يوهٔ موافقه ليک يا قرارداد کې د مؤجر شخص حق داسې عملي کېږي چې پورته ذکر شوی حق، د دولت د استازي په صفت د ماليي وزارت له ليکلي يادداښت وروسته مؤقتاً ماليي وزارت ته ولېږدول شي.

۲- که چېرې مستأجر، د ورکړې وړ ماليه د ماليي وزارت د يادداښت له ترلاسه کولو وروسته په (۳۰) ورځو کې تحويل نکړي، د کرايي په قرارداد يا ورته قراردادونو کې د مؤجر حق، د کرايي د نه ورکولو له امله د کرايه کښېناستونکي د ايستلو لپاره پداسې ډول عملي کېږي چې نوموړی حق د دولت د استازي په توګه د ماليي وزارت ته ولېږدېږي.

دغه حالت تر هغهٔ وخته پورې پاتې کېږي چې د ماليي وزارت له کرايي او د دې قانون په شپاړسم فصل کې درج د ورکړې وړ هر ډول اضافي ماليې څخه را پيدا شوي عوايد ترلاسه کړي.

**<u>د مالياتو د ورکړې او لېږدېدو وخت</u>**

**شپېتمه ماده:**

هغهٔ کار فرما چې د دې قانون په اته پنځوسمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق، د ماليې په وضع کولو باندې مکلف دی، وضع شوی مبلغ د راتلونکې مياشتې تر لسمې پورې هغهٔ ټاکلي بانکي حساب ته چې د ماليي وزارت لخوا ورپيژندل کېږي، په بانک کې تحويلوي. کار فرما مکلف دی د مالياتو د وضع کولو رپوټ پر عايداتو باندې د مالياتو د تعليماتنامې مطابق اړوندو مالياتي ادارو ته وړاندې کړي.



ACKU

**<u>د صورت حساب برابرول</u>**

**یو شپېتمه ماده:**

(۱) کار فرما مکلف دی د مالیې وزارت د لارښود مطابق د اړوندو کارکوونکو د معاش او مالیې صورت حساب په انفرادي توګه برابر او د راتلونکي کال د لومړۍ میاشتې تر پایه پورې یې د مالیې وزارت یا مالیاتي څانګو او اړوندو کارکونکو ته وړاندې کړي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی کارفرما مکلف دی له معاشونو او مزدوریو څخه د وضع شوو کلنیو مالیاتو توحیدی رپوټ د ځای او وخت په څرګندولو سره چې د مالیې وزارت لخوا تثبیتېږي، وړاندې کړي.

**<u>د صورت حساب د وړاندی کولو وخت</u>**

**دوه شپېتمه ماده:**

(۱) مؤدي مکلف دی د خپل کلني معاش او مالیې د صورت حساب رپوټ، د مالي کال له پایته رسېدو یوه نیمه میاشت وروسته، اړوندو مالیاتي څانګو ته وړاندې کړي.

(۲) که چېرې د لاندې شرایطو لرونکی مؤدي د خپل کلني معاش او مالیې صورت حساب، د کارفرما له تصدیق وروسته د مالي کال له پایته رسېدو وروسته د یوې نیمې میاشتې په ترڅ کې وړاندې کړي، د جلا اظهار لیک له وړاندې کولو څخه معاف دی:

۱- مالیه ورکوونکی له معاش یا مزد پرته چې مالیه ور څخه وضع شوې وې، د مالي کال په ترڅ کې بل عاید ونلري.

۲- مالیه ورکوونکی د مالي کال په اوږدو کې له یوۀ کارفرما څخه د زیاتو لخوا استخدام شوی نه وي.

۳- وضع شوې مالیه د دې قانون د څلورمې مادې په (۳) فقره کې له درج شوي نورم سره مطابق ولري.

**<u>د اظهار لیک وړاندی کول</u>**

**دري شپېتمه ماده:**

هغه مؤدي چې د مالیاتو د وضع له تابع معاشونو او مزدوریو څخه له یوۀ کارفرما له زیاتو څخه د عوایدو لرونکی وي او یا هم له معاشونو او مزدوریو پرته له نورو سرچینو څخه عواید ولري، مکلف دی پر عایداتو باندې د مالیاتو خپل اظهارلیک د دې قانون د حکمونو مطابق وړاندې کړي. د مالیې وضع شوي مبالغ مؤدي ته د مجرایي وړ دي.

ACKU

## لسم فصل

## د انتفاعي معاملو ماليه

**<u>د خدمتونو د وړاندې کولو او انتفاعي معاملو ماليه</u>**

**څلور شپېتمه ماده:**

انتفاعي ماليه: له هغې ماليې څخه عبارت ده چې د ناخالصو عوايدو له سرجمع (خرڅلاو) څخه د هر ډول کڅراتو له وضع کولو د مخه، د دې قانون په (۶۶) ماده کې د درج شوي نورم مطابق اخستل کېږي.

(۱) هغه حکمي شخص چې اجناس او خدمتونه د بيې په مقابل کې وړاندې کوي، د انتفاعي ماليې په ورکړه مکلف دی.

(۲) هغه حقيقي شخص چې اجناس يا خدمتونه د بيې په وړاندې عرضه کوي او عايد يې په هره ربع کې اووه سوه پنځوس زره يا له هغو څخه زيات وي، د انتفاعي معاملو د ماليې په ورکړه مکلف دی.

د دې قانون د (۶۶) مادې په (۲، ۳، ۴ او ۵) فقره کې درج شوي اشخاص، لدې حکم څخه مستثني دی.

(۳) هغه اشخاص چې د مالونو په واردولو لاس پورې کوي، د انتفاعي معاملو د ګمرکي محصول په شمول د واردو شوو مالونو د تمامې شوې بيې د دوه فيصده ماليې تابع دي.

(۴) د دې مادې په (۳) فقره کې درج شوې ماليه، په هغۀ ګمرک کې اخستل کېږي چې مالونه په هغۀ کې محصوليږي.

(۵) له يوۀ کاري واحد څخه د ترلاسه شوو عوايدو سرجمع، د تجزيې وړ ندی.

(۶) که چېرې د خدمتونو او مالونو له وړاندې کولو څخه ترلاسه شوي عوايد، پر نغدو پيسو، جنس يا د خدمت پر وړاندې کولو باندې مشتمل وي، د پلورنې له درکه د جنس يا د ترلاسه شوي خدمت ارزښت، د ورځې له نرخ څخه عبارت دی.

**<u>د انتفاعي معاملو له ماليې څخه معافيت</u>**

**پنځه شپېتمه ماده:**

لاندې عوايد د انتفاعي معاملو له ماليې څخه معاف دي:

۱- د ټکټاني د تحصيل له درکه ترلاسه شوي عوايد.

۲- د اسعارو له تبادلې د بانکي حساب او پس انداز له فعاليت، پر اماناتو باندې له معاملې يا له بانکي حساب څخه د هغو له اخستلو، د چک يا تضمين ليکونو له صادرولو، د انټرنټ له لارې له بانکدارۍ، د رهن يا پور له برابرولو، د تدريجي کرېډت له وړاندې کولو څخه ترلاسه شوی فيس.

۳- په راتلونکې کې ټاکلې نېټې ته موکول نغدي قرارداد.

۴- په قرارداد کې د درج شوي جنس له فزیکي لېږد سره، راتلونکي ته د موکول قرارداد عقد.

۵- د هر ډول بیمې یا بیا بیمې د برابرولو له درکه حق البیمه.

۶- د هغهٔ سهم ګټه چې د سهم لرونکي په واسطه له سهامي یا محدودالمسئولیت یا تضامني شرکت څخه د سهم لرونکي د سهامو یا د شراکت د ټکټاني له درکه اخستل کېږي.

۷- د اجناسو او خدمتونو د صادرېدو له درکه ترلاسه شوی عاید.

۸- د دې قانون په (۱۷ یا ۴۶) ماده کې د درج شوو خدمتونو د وړاندې کولو له درکه ترلاسه شوی عاید.

۹- حقیقي شخص ته د اوسېدنې د جایداد له کرایې یا اجارې څخه ترلاسه شوی عاید، په هغهٔ صورت کې چې مستأجر له جایداد څخه د خپلې اوسېدنې د ځای په توګه، د مالي کال له شپږو میاشتو څخه زیاته ګټه اخستې وي.

۱۰- د حقیقي شخص د جایداد له پلورنې څخه ترلاسه شوی عاید، د هغهٔ د سوداګریزو فعالیتونو له معمولي بهیر څخه بهر پلورنې یوازې په هغهٔ صورت کې د حقیقي شخص د سوداګریزو فعالیتونو له معمولي بهیر څخه بهر ګڼل کېږي چې دغه ډول پلورنې په منظمه او دوامداره توګه صورت ونه مومي.

**<u>د انتفاعي معاملو د مالیې اندازه</u>**

**شپږ شپېتمه ماده:**

(۱) د دې مادې له (۲) څخه تر (۵) فقره کې د درج شوو اشخاصو په استثنې، د دې قانون د (۶۴) مادې په (۱ او ۲) فقره کې د درج شوو اشخاصو له هر ډول انتفاعي فعالیتونو څخه (د کسراتو له وضع کولو د مخه) د ترلاسه شوو عوایدو په سلو کې دوه.

(۲) د هغو هوټلونو یا مېلمستونونو او رستورانونو له خدمتونو څخه چې په میاشت کې د دې قانون د (۶۴) مادې په (۲) فقره کې له درج شوي حد څخه لږ عاید ولري او (د کسراتو له وضع د مخه) د ترلاسه شوو عوایدو په سلو کې دوه.

د هوټل یا میلمستون خدمتونو د دې قانون په مفهوم عبارت دي، له هغو اشخاصو ته چې موقتاً هلته د مسافر په توګه استوګنه لري، د خوب د خونې برابرول او د خدمتونو (ډوډۍ، څښاک، جامو پرېمینځلو او مخابراتي خدمتونو)، وړاندې کول.

(۳) د هغو هوټلونو یا مېلمستونونو او رستورانونو له خدمتونو څخه چې په میاشت کې د دې قانون د (۶۴) مادې په (۲) فقره کې له درج شوي حد څخه زیات وي، (د کسراتو له وضع د مخه) د ترلاسه شوو عوایدو په سلو کې پنځه.

د رستورانت خدمتونه د دې قانون په مفهوم عبارت دي له د خوړو یا څښاک د برابرولو خدمتونه د هغه تأسیساتو په واسطه چې هلته مراجعینو ته د خوړو د بیرنې خوړلو اسانتیاوې برابرېږي او د برابرو شوو خوړو رسول یا د پخو شوو خوړو د خرڅلاو رسول یا د پخو شوو خوړو د خرڅلاو په معنې چې د رستورانت په انګړ کې چمتو شوي وي.

(۴) د محفلونو د جوړولو د سالونونو او کلوپونو له خدمتونو څخه د ترلاسه شوو عوایدو (د کسراتو له وضع د مخه) په سلو کې پنځه.

(۵) د مخابراتو، هوايي ترانسپورت، د لوړو خدمتونو لرونکو هوټلونو او رستورانونو د خدمتونو له درکه، له ترلاسه شوو عوایدو څخه (د کسراتو له وضع د مخه) په سلو کې لس.

مخابراتي او د هوايي کرښو خدمتونه د دې قانون په مفهوم عبارت دي له مخابراتي خدمتونه، (د هر ډول ټيلفوني، انټرنټ او فکس خدمتونو برابرول دي) د مسافر برئ هغه خدمتونه چې د الوتنې مبدا يې افغانستان وي.

(۶) که چېرې د دې مادې په (۳، ۴ او ۵) فقره کې درج شوی مالیه ورکوونکی ادعا وکړي چې یوه یا څو میاشتې په دغو فقرو کې د درج شوې مالیې تابع خدمتونو له وړاندې کولو څخه راپیدا شوي عواید نلري، مکلف دی موضوع په لیکلې توگه د مالیاتي اظهارلیک په ضمیمه د مالیې وزارت ته خبر او تسلیم ورکړي، که چېرې ادعا د تأیید وړ وگرځي، په پورتنیو فقرو کې د درج شوې مالیې تابع ندی، په هغهٔ صورت کې چې نوموړې ادعا د حقیقت خلاف ثابته شي، د دې مادې په (۳، ۴ او ۵) فقره کې د درج شوې مالیې پر ورکړه برسېره، د دې قانون د اته نوي یمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم مطابق، د اضافي مالیې په ورکړه هم مکلف دی.

(۷) د مالیې وزارت د دې مادې د ښه تطبیق او د هغې دمعیارونو د ټاکلو لپاره، کړنلاره وضع او اجراء کوي.

**<u>د انتفاعي معاملو د مالیې تطبیق</u>**

**اووه شپېتمه ماده:**

(۱) د انتفاعي معاملو مالیه، د ترلاسه شوو عوایدو له سرجمع څخه، د دې له په نظر کې نیولو پرته چې مالیه ورکوونکي د روان کال یا د مخه کلونو په اوږدو کې گټه یا زیان کړی دی، د ورکړې وړ ده.

(۲) هغه مبلغ چې د انتفاعي معاملو د مالیې له درکه، ورکړل شوی دی، د مالیې وړ اړوندو عوایدو د سنجولو په وخت کې، د لگښت د قلم په توگه، د مجرایي وړ دی.

(۳) د دې قانون د (۶۴) مادې په (۳) فقره کې درج شوې مالیه، د انتفاعي معاملو د مالیې د مکلفیتونو د سنجولو په وخت کې، د مجرایي وړ ده. که چېرې ورکړل شوی مبلغ د هماغهٔ کال د ورکړې وړ انتفاعي معاملو له مالیې څخه زیات وي، اضافي مبلغ په وروستنیو دورو کې د مجرایي وړ ندی.

## يوولسم فصل

## ثابت ماليات

**<u>د ثابتو مالياتو تابع انتفاعي فعاليتونو</u>**

**اته شپېتمه ماده:**

هغه اشخاص چې د دې فصل په حکمونو کې درج شوي انتفاعي فعاليتونه سرته رسوي، پر عايداتو باندې د مالياتو او انتفاعي معاملو د مالياتو په عوض د ثابتو مالياتو د ورکړې تابع دي.

**<u>د ثابتو مالياتو د ورکړې وخت</u>**

**نهه شپېتمه ماده:**

د مالي کال په ترخ کې ثابته ماليه د ورکړې وړ ده، خو دا چې په قانون کې بل ډول اټکل شوي وي.

**<u>د وارداتي مالونو ثابته ماليه</u>**

**اويايمه ماده:**

(۱) هغهٔ اشخاص چې د سوداګريز جواز لرونکي دي او د مالونو په واردولو لاس پورې کوي، د هغو د ګمرکي محصول په شمول د واردو شوو مالونو د تمامي شوې بيې په سلو کې د دوو ثابتې مالیي تابع دي. ورکړل شوې ماليه د هغوی پر کلنيو عايداتو باندې د مالياتو د مخه ورکړې په توګه ګڼل کېږي او دغه ډول ورکړې، د دې قانون د حکمونو مطابق، د نوموړو اشخاصو د تأدياتي مکلفيت په وړاندې په پام کې نيول کېږي.

(۲) هغه اشخاص چې د سوداګريز جواز له لرلو پرته د مالونو په واردولو لاس پورې کوي، پر عايداتو باندې د مالياتو په عوض د هغو د ګمرکي محصول په شمول د واردو شوو مالونو د تمامي شوې بيې په سلو کې د دريو ثابتې ماليي د ورکړې تابع دي.

(۳) هغه اشخاص چې مؤقت سوداګريز جواز ليک لري او د سوداګريزو مالونو په واردولو لاس پورې کوي او مالياتي اظهارليک د ماليي وزارت ته نه وړاندې کوي، پر عايداتو باندې د مالياتو په عوض د هغو د ګمرکي محصول په شمول د واردو شوو مالونو د تمامي شوې بيې په سلو کې د دريو ثابتې ماليي د ورکړې تابع ګڼل کېږي.

(۴) د دې مادې په فقرو کې درج شوي ماليات په هغهٔ ګمرک کې اخستل کېږي چې مالونه هلته محصول کېږي.

## د عراده جاتو ثابته مالیات

**یو اویایمه ماده:**

هغهٔ اشخاص چې په لاس کې د شتو وسایطو په واسطه د سوداګریز فعالیت په مقصد د مالونو په لېږدولو او د اشخاصو په حمل او نقل لاس پورې کوي، د جواز سیر له نوي کولو د مخه په لاندې توګه د کلنۍ مالیې په ورکړه مکلف ګڼل کېږي:

۱- بار وړونکي عراده د ټن په اساس:

- له یوهٔ څخه تر دوو ټنو پورې، دوه زره او شپږ سوه افغانۍ.

- له دوو څخه زیات تر دریو ټنو پورې، درې زره او څلور سوه افغانۍ.

- له دریو څخه زیات تر څلورو ټنو پورې، څلور زره او دوه سوه افغانۍ.

- له څلورو څخه زیات تر پنځو ټنو پورې، پنځه زره افغانۍ.

- له پنځو څخه زیات تر شپږو ټنو پورې، شپږ زره افغانۍ.

- له شپږو څخه زیات تر اتو ټنو پورې، اووه زره او پنځه سوه افغانۍ.

- له اتو څخه زیات تر لسو ټنو پورې، نهه زره افغانۍ.

- له لسو څخه زیات تر دوو لسو ټنو پورې، لس زره او پنځه سوه افغانۍ.

- له دوو لسو څخه زیات تر څوارلسو ټنو پورې، دوولس زره افغانۍ.

- له څوارلسو څخه زیات تر شپاړسو ټنو پورې، دیارلس زره او پنځه سره افغانۍ.

- له شپاړسو څخه زیات تر اتلسو ټنو پورې، پنځلس زره افغانۍ.

- له اتلسو څخه زیات تر شلو ټنو پورې، شپاړس زره او پنځه سوه افغانۍ.

- له شلو څخه زیات تر پنځه ویشتو ټنو پورې، اتلس زره او پنځه سوه افغانۍ.

- له پنځه ویشتو ټنو څخه زیات، په اتلس زره او پنځه سوه افغانیو برسېره یو ټن پنځه سوه افغانۍ.

- د ترلېر د اکسل د پاسه د مجاز وزن له مجموع څخه زیات، له پنځه سوه کیلو ګرامه څخه اضافه، یو ټن، دوه سوه افغانۍ.

۲- مسافر وړونکي عراده جات:

- له دریو څخه تر پنځو تنو پورې په ظرفیت تکسي، دوه زره افغانۍ.

- د پنځو تنو له ظرفیت پورته تکسي په دوه زره افغانیو برسېره، یوه څوکۍ دوه سوه افغانۍ.

- څوارلس څوکۍ مکروبس، دوه زره او شپږ سوه افغانۍ.

- له پنځلسو څخه تر یوویشتو څوکیو پورې هر ډول بس، څلور زره افغانۍ.

- له دوه ویشتو څخه تر نهه ویشتو څوکیو پورې، شپږ زره افغانۍ.

- له دېرشو څخه تر نهه دېرشو څوکیو پورې، اووه زره افغانۍ.

- له څلوېښتو څخه تر نهه څلوېښتو څوکیو پورې اوو زره او پنځه سوه افغانۍ.

- له پنځوسو څخه تر شپېتو څوکیو پورې، اته زره افغانۍ.

- له شپېتو څوکیو څخه زیاتې، پر اتو زره افغانیو بر سېره، یوه څوکۍ دوه سوه افغانۍ.

۳- عراده جات د سلنډر په حساب:

- څلور سلنډره عراده جات، یوه عراده، یو زر او پنځه سوه افغانۍ.

- شپږ سلنډره عراده جات، یوه عراده، دوه زره افغانۍ.

- اته سلنډره عراده جات، یوه عراده، درې زره افغانۍ.

- له اتو سلنډرو څخه زیات عراده جات، پر درې زره افغانیو برسېره یو سلنډر، پنځه سوه افغانۍ.

۴- ریکشا:

- د موټرسایکل رېکشا، یوه عراده، پنځه سوه افغانۍ.

- رېکشا یوه عراده، یو زر افغانۍ.

**د قراردادي موضوعي مالیه**

**دوه اویایمه ماده:**

(۱) هغه اشخاص چې د سوداګریز جواز لرونکي ندي او هغه اشخاص چې د منظورې شوې اساسنامې مغایر مواد، لوازم، خدمتونه او ودانیزې چارې له دولتي ادارو، ښاروالیو، دولتي تصدیو، خصوصي بنسټونو او نورو اشخاصو سره قرارداد وکړي، پر عایداتو باندې د مالیاتو په عوض د ثابتې مالیې د اووه فیصده په ورکړه مکلف ګڼل کېږي.

دغه مالیه له ورکړې وړ وجوهو څخه وضع کېږي.

(۲) د جواز لرونکي اشخاص چې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي خدمتونه او مواد له نومړو بنسټونو سره تر سره کوي، د دوه فیصده قراردادي مالیې تابع دي.

پدې فقره کې درج شوې مالیه، د وروستیو مالیاتي مکلفیتونو په وړاندې، د محاسبې او مجرایي وړ ده.

(۳) د دې مادې په (۱ او ۲) فقره کې درج شوي مالیات، د تأدیه کوونکو اشخاصو په واسطه د ورکړې په وخت کې وضع او تر لسو ورځو پورې دې د مالیاتي ادارې اړوند حساب ته ولېږدوي.

پدې ماده کې درج شوي قرارداد کوونکي مکلف دي، د قرارداد د عقد په وخت کې د هغۀ کاپي په یوۀ وخت مالیاتي اړونده ادارې ته واستوي. هغه حقیقي اشخاص چې د دې قانون د اوولسمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم مطابق، د مالیې وړ معاشونه اخلي، لدې امر څخه مستثنیٰ دي.

**د نندارو د عوایدو ثابته مالیه**

**دري اویایمه ماده:**

(۱) ثابته مالیه یوازې په افغانستان کې پر مېشتو حقیقي اشخاصو او په افغانستان کې پر نه مېشتو حقیقي او حکمي اشخاصو باندې تطبیقېږي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص، چې تفریحي خدمتونه لکه تیاتر، د فلم ننداره، رادیو یا تلویزیون، موسیقي یا ورزشي مسابقې د افغانستان په د ننه کې وړاندې کوي، د ټکټ له پلورلو څخه د لاسته راغلو عوایدو، د لسو فیصدو معادل ثابتې مالیې تابع دي.

نوموړې ثابته مالیه، پر عایداتو باندې د مالیاتو او د انتفاعي معاملو د مالیې په عوض وضع کېږي دغه مالیه د دې قانون د اته اتیایمې مادې په (۹) فقره کې د درج شوي حکم مطابق، ورکول کېږي. مالیه د سیمې په مالیاتي دفتر کې چې خدمتونه هلته وړاندې کېږي د ورکړې وړ ده. نور هغه اشخاص چې تفریحي خدمتونه اجراء یا برابروي، د دې قانون د حکمونو مطابق، پر عایداتو باندې د مالیاتو او د انتفاعي معاملو د مالیې تابع ګرځي.

**د کوچنیو تشبثاتو (اصنافو) ثابته مالیه**

**څلور اویایمه ماده:**

(۱) هغه د لاندې شرایطو لرونکي حقیقي اشخاص چې په کار او فعالیت بوخت وي، د دې قانون په (۷۵) ماده کې د درج شوي حکم مطابق، د ثابتې مالیې په ورکړه مکلف دي:

۱- هغه حقیقي اشخاص چې عواید لري، د دې قانون په حکمونو کې د درج شوې موضوعي او معاف مالیې تابع نه وي.

۲- د هغو حقیقي اشخاصو د عوایدو مجموع چې په مالي کال کې له دریو میلیونو افغانیو څخه لږ وي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي حقيقي اشخاص، د دې قانون د اته اتيايمې مادې په (۶) فقره کې د درج شوي حکم مطابق، پر عايداتو باندې د ماليات د اظهار ليک په ډکولو او وړاندې کولو مکلف دي. د ورکړې وړ ثابته ماليه، د دې قانون په پنځه اويايمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق، محاسبه کيږي.

**<u>پر کوچنيو اقتصادي فعاليتونو (اصنافو) باندې د ثابتو مالياتو ټاکل</u>**

**پنځه اويايمه ماده:**

(۱) که چيرې حقيقي اشخاص د مالي کال په ترڅ کې د دې قانون په حکمونو کې د درج شوي موضوعي ماليي تابع سرچينو او نورو سرچينو له درکه تر شپيتو زرو افغانيو پورې عايد ولري، له ماليي څخه معاف دي.

(۲) که چيرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص، د مالي کال په ترڅ کې، له ماليي څخه د معاف عوايدو او هغو عوايدو چې د موضوعي ماليي تابع ګرځي، په استثنئ، له شپيتو زرو څخه زيات تر يو سلو پنځو سو زرو افغانيو پورې عايد ولري، د کال په هره ربع کې د پنځه سوه افغانيو ثابتې ماليي په ورکړه، مکلف دي.

(۳) که چيرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص، د مالي کال په ترڅ کې له ماليي څخه د معاف عوايدو او هغو عوايدو چې د موضوعي ماليي تابع ګرځي په استثنئ، له يو سلو پنځو سو زرو افغانيو څخه زيات تر پنځه سوه زرو افغانيو پورې عايد ولري، د دې مادې په (۲) فقره کې پر درج شوي ثابت مبلغ برسيره، د يو زرو پنځه سوه افغانيو ثابتې ماليي په ورکړه مکلف دي.

(۴) که چيرې اشخاص د مالي کال په ترڅ کې له ماليي څخه د معاف عوايدو يا د دې قانون په حکمونو کې درج د موضوعي ماليي تابع موضوعي عوايدو په استثنئ له پنځه سوه زرو افغانيو څخه زيات تر دريو ميليونو افغانيو پورې عايد ولري، له خپلو ناخالصو عوايدو څخه د درې فيصده ثابتې ماليي په ورکړه مکلف دي يا کولی شي د دې قانون د څلورمې مادې په (۳) فقره کې د درج شوي حکم مطابق، د ماليي ورکړې وړ خپلو عوايدو څخه پر عايداتو باندې ماليات ورکړي، د انتفاعي معاملو د ماليي پر عايداتو باندې د مالياتو يا د مؤدي د ثابتې ماليي د تطبيق د وخت ټاکل، له دريو کلونو څخه لږ نه وي.

**<u>د معافيتونو تعديل</u>**

**شپږ اويايمه ماده:**

(۱) د دې قانون په حکمونو کې د درج شوو مالياتي معافيتونو او نورو تعديل، د ماليي وزارت په وړانديز او د واکمنو مقامونو په منظوری صورت مومي.

(۲) د ماليي وضع کول او مالياتي معافيتونه، د ماليي وزارت له موافقې پرته جواز نه لري.

ACKU

## دوولسم فصل

## د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد پر لرونکي باندې د مالیاتو د وضع کولو لپاره مالیاتي مقررات

**تعریفونه**

**اووه اویایمه ماده:**

(۱) لاندې اصطلاحګاني پدې فصل کې لاندنی معناوې لري:

۱- د هایدروکاربونونو قرارداد:

د پلټنې له یوۀ قرارداد یا په هر هغه قانون کې د درج شویو خدمتونو له قرارداد څخه عبارت دی چې په افغانستان کې هایدروکاربونونو په هکله تطبیق شي. هایدروکاربونونه له نفتو او ګاز او د هغو له نورو مشتقاتو څخه عبارت دي.

۲- د کانونو واک لیک: له هغۀ اجازه لیک څخه عبارت دی چې د کانونو د قانون د حکمونو مطابق د کانونو وزارت لخوا د ډېرو د کانونو، د اکتشاف، د ډېرو د کانونو د دایمي ګټې اخستنې، د دمخه استخراج شوو بېکاره موادو د ګټې اخستنې، حرفه یي ګټې اخستنې، سوداګرۍ، پروسس، حمل او نقل یا د منرالي موادو ډول ته د بدلون ورکولو په منظور، ورکول کېږي.

۳- جوازلیک: له هغۀ سند څخه عبارت دی چې د کانونو د اکتشاف یا ګټې اخستنې په منظور، د کانونو د قانون مطابق، ورکول کېږي.

۴- د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکی: پر هغۀ مؤدي باندې اطلاقېږي چې د کان د جوازلیک او واک لیک لرونکی وي او یا د هایدروکاربن په قرارداد کې له اړوندو اړخونو څخه یو وي.

۵- د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد د لرونکي شتمني: له هغې شتمنۍ څخه عبارت ده چې:

- له (۱۲) میاشتو څخه زیات اغېزناک عمر ولري.

- د کان په جواز، د کان په واک لیک یا د هایدروکاربن په قرارداد کې په درج شویو فعالیتونو کې د مستقیمې ګټې اخستنې په منظور پېرودل یا ودان شوي وي.

(۲) یوه حلقه څاه چې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد لرونکي په ذریعه د هایدروکاربونونو د پلټنې، پر مختیا یا تولید په منظور کیندل شوې وي، د نوموړي شخصیت د شتمنۍ په توګه ګڼل کېږي او ټول هغه لګښتونه چې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد د لرونکي، بل شخص چې له نوموړي شخصیت سره د قرارداد پر بنسټ څاه و کني په ذریعه یا د څاه په بندولو لګېدلي وي، د څاه د کیندلو د لګښتونو په توګه ګڼل کېږي، که چېرې د څاه د کیندلو یا د څاه د کیندلو د قرارداد لګښتونو له یوۀ مالي کال څخه زیات دوام ومومي، داسې

ګټل کېږي چې نوموړي شخصيت په هر کال کې جلا شتمني لاسته راوړې او د هرې شتمنۍ ارزښت، د څاه کيندلو يا د څاه د کيندلو د قرارداد د هماغهٔ کال له لګښتونو سره برابر دی.

**<u>د دوولسم فصل اولويت</u>**

**اته اويايمه ماده:**

پدې فصل کې د درج شوو حکمونو په استثني، د دې قانون په فصلونو کې درج شوي مواد، د کان د جواز، د کان د واک ليک يا هايدروکاربن د قرارداد پر لرونکي په همغه شان چې پر يوهٔ معمولي مؤدي باندې تطبيقېږي، د تطبيق وړ دي، خو دا چې د دې فصل د يوې مادې په ذريعه بدلون ومومي.

**<u>د کان د جواز لرونکو مالياتی مکلفيتونه</u>**

**نهه اويايمه ماده:**

(۱) د کان د جواز، د کان د واک ليک يا د هايدرو کاربن د قرارداد لرونکی، له واک ليکونو، جوازونو او قراردادونو څخه د هر يوهٔ په اعتبار د جلا مؤدي په توګه ګڼل کېږي.

(۲) که چېرې د کان د جواز، د کان د واک ليک يا د هايدرو کاربن د قرارداد لرونکی، د هايدرو کاربن له يوهٔ څخه په زياتو قراردادونو کې ذيدخل اړخ او يا د کان د جواز، د کان د واک ليک يا له يوه څخه د زياتو او يا له پورته دواړو مواردو څخه د مرکب لرونکی وی، داسي حسابيږي چې هغه د هايدرو کاربن، د کان د جواز او د کان د واک ليک د اړوندو سوداګريزو فعاليتونو پر بنسټ د مجزا شخص په توګه ګڼل کېږي.

(۳) که چېرې د هايدرو کاربن قرارداد، د کان جواز او د کان واک ليک تمديد شي، د هغو تمديد د هايدرو کاربن د قراردا، د کان د جواز او واک ليک د اصلي برخې په توګه، د دې مادې د تطبيق په منظور ګڼل کېږي.

(۴) که چېرې د کان د جواز، د کان د واک ليک يا د هايدرو کاربن د قرارداد لرونکی د هايدرو کاربن له يوهٔ څخه په زياتو قراردادونو کې ذيدخل اړخ او يا د کان د جواز، يا د کان د واک ليک له يوهٔ څخه زياتو يا له پورته دواړو مواردو څخه د مرکب لرونکی وي او د هايدرو کاربن د قرارداد، د کان د جواز يا واک ليک له يوهٔ څخه د زياتو د لګښتونو متقبل شي، نوموړي لګښتونه د فعاليت د مختلفو اړخونو ترمنځ له لګښتونو څخه د ګټې اخستنې او د کارولو ډول ته په کتنې سره وېشل کېږي.

## د انتفاعي معاملو ماليه

**اتيايمه ماده:**

د دې قانون په لسم فصل کې درج د انتفاعي معاملو ماليه پر لاندې عوايدو باندې د تطبيق وړ نده:

۱- د کاني موادو د پلورني له مدرکه (هغه پول چې د ۱۳۸۴ کال د کاني موادو په قانون کې تعريف شوي دي) د کان د جواز، د کان د واک ليک يا د هايدرو کاربن د قرارداد د لرونکي عوايد چې د کان د جواز يا واک ليک تابع دي.

۲- د هايدرو کاربن د پلورني له مدرکه، د کان د جواز، د کان د واک ليک يا د هايدروکاربن د قرارداد د لرونکي عوايد چې د هايدروکاربن د قرارداد تابع دي.

۳- د کان د جواز، د کان واک ليک يا د هايدرو کاربن د قرارداد د پلورنې يا لېږدونې له مدرکه د کان د جواز، د کان د واک ليک يا د هايدرو کاربن د لرونکي عوايد.

## د استهلاک وضع کېدل

**يو اتيايمه ماده:**

(۱) د دې قانون د اتلسمې مادې د (۱) فقرې د (۷) جزء پر خلاف، د کان د جواز، د کان د واک ليک يا د هايدرو کاربن د قرارداد لرونکی چې د خپلې شتمنۍ د ترلاسه کولو په منظور، د ودانۍ يا د ودانۍ د اشغال د حق په استثنې لګښتونه منې، کولای شي د شتمنۍ د ترلاسه کولو لګښتونه د برابرې فيصدۍ پر بنسټ هر کال له لاندې مواردو څخه لږ مجرايي ترلاسه کړي:

۱- د شتمنۍ اغېزناک عمر (د استهلاک دوره).

۲- د کسراتو د مجرايي پنځه کاله له هغه کال څخه چې شتمني پکې ترلاسه شوې ده، پيل کېږي.

(۲) د دې قانون د اتلسمې مادې د (۱) فقرې د (۷) جزء پر خلاف د يا د هايدرو کاربن د قرارداد لرونکی چې د شتمنۍ د ودانولو يا ترلاسه کولو يعني ودانې يا د ودانۍ د نيولو (اشغال) لپاره د حقوقو د ترلاسه کولو په منظور له کلنۍ کرايې پرته لګښتونو متقبل کېږي، ذکر شوي لګښتونه د برابرې فيصدۍ پر بنسټ د (۱۵) کلونو په بهير کې وضع کولای شي. د کسراتو وضع کول له هغه کال څخه چې لګښتونه پکې متقبل شوی دی، کېږي، پيل کېږي.

(۳) د کان د جواز، د کان د واک ليک يا د هايدروکاربن د قرارداد لرونکی چې د کان د واک ليک، د کان د جواز يا د هايدرو کاربن د قرارداد د ترلاسه کولو د لګښتونو متقبل کېږي، د کان د واک ليک، د کان د جواز يا د هايدرو کاربن د قرارداد د ترلاسه کولو لګښتونه د برابرې فيصدۍ پر بنسټ، هر کال له هغو کلونو څخه چې پورته ذکر شوی واک ليک، جواز او د هايدرو کاربن قرارداد تر تطبيق لاندې نيول کېږي، وضع کولای شي.

ACKU

(۴) د کان د جواز، د کان واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد د لرونکي د شتمنی د استهلاک ارزښت، په هر وخت کې د اصلي لګښتونو په توګه منفي د ذکر شوې شتمنی د ودانولو یا ترلاسه کولو د لګښتونو هر ډول کسرات چې د دې مادې مطابق مجاز ګڼل شوي دي، محسوبیږي. که چیرې پورته ذکر شوی شخصیت، خپله شتمني له ارزښت زیاته، د هغې له استهلاک وروسته وپلوري، اضافي بیه د نوموړي شخص له مالیي وړ عوایدو څخه محسوبیږي. که چیرې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد لرونکی خپله شتمني له ارزښت څخه په ټیټه د هغې د استهلاک له وضع کولو وروسته وپلوري، کولای شي له استهلاک او د پلورنې له بیې د وروسته ارزښت د توپیر مجرایي په هغهٔ کال کې چې شتمنې پکې پلورل شوې ده، لاس ته راوړي.

## د سرکونو د جوړولو لګښتونه

**دوه اتیایمه ماده:**

(۱) دغه ماده د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد پر هغهٔ لرونکي باندې چې د هغو فعالیتونو د پر مخبیولو لپاره چې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد مطابق، د سړک جوړولو لپاره لګښتونه مني، تطبیقیږي.

(۲) هغه شخصیت چې د دې مادې په (۱) فقره کې تشریح شوی دی، کولای شي د سړک د جوړولو لګښتونه لکه څرنګه چې د دې مادې په (۱) فقره کې څرګنده شوې ده، د هغهٔ کال د لګښتونو په کسر سره چې سړک پکې بشپړیږي، د پنځلسو کلونو په موده کې، وضع کړي.

(۳) دغه فقره د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد په لرونکي باندې چې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد مطابق خپل حقوق په بل شخص باندې پلوري او په پایله کې پلورونکی شخص له هغهٔ سړک څخه چې د دې مادې په (۱) فقره کې تشریح شوی دی ګټه نه اخلي او د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربونونو د قرارداد ترلاسه کوونکی له نوموړي سړک څخه ګټه اخلي، تطبیقیږي. پداسې حالت کې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربونونو ترلاسه کوونکی شخص د کسراتو د پاتې کلونو لپاره د سړک د جوړولو د نه کسر شوو لګښتونو د وضع کولو مستحق دی. د سړک د لګښتونو د کسر پاتې کلونه د هغو کلونو د شمېر په منفي کولو سره چې پخوانې مالک یا مالکان یې د دې مادې پر بنسټ د استهلاک مستحق وو، له پنځلسو کلونو څخه محاسبه کیږي.

(۴) په هغهٔ صورت کې چې د دې مادې (۳) فقره د هغهٔ سړک پر جوړولو باندې چې د دې مادې په (۱) فقره کې تشریح شوی دی تطبیق شي، هغهٔ شخص چې خپل حقوق د کان د جواز، د کان د واک پاڼې یا د هایدرو کاربن د قرارداد مطابق پلوري، د دې مادې د حکم مطابق په هغهٔ کال کې چې نوموړي حقوق پکې پلورل شوي یا د هغهٔ په راوروسته کلونو کې کې د سړک د جوړولو د لګښتونو د مجرایي مستحق ندی.

## <u>له تولید د مخه لګښتونه</u>

**دري اتیایمه ماده:**

(۱) د دې قانون د اتلسمي مادې پرخلاف د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد لرونکی یوازې له تولید څخه د مخه لګښتونه د برابرې فیصدی پر بنسټ په هر کال کې له تولید څخه د دمخه لګښتونه د رسېدو په موده کې په هغهٔ صورت کې مجرایي اخستی شي چې:

۱- "له تولید څخه د مخه لګښتونه" له هغو لګښتونو څخه عبارت دي چې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد لرونکي د کان په جواز، د کان په واک لیک یا د هایدرو کاربن په قرارداد پورې د اړوندو فعالیتونو په موده کې د سوداګریزو کاني موادو له تولید څخه دمخه متقبل شوی وي. لدې سره سره له تولید څخه د مخه لګښتونه، د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد د لرونکي د شتمنی د ترلاسه کولو لګښتونه، د کانونو یا د سړک د جوړولو لګښتونه په بر کې نه نیسي.

۲- د کانونو یا د هایدرو کاربن د استخراج په فعالیتونو کې «له تولید څخه د دمخه لګښتونو د بیا رسېدو موده» چې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد لرونکي په ذریعه د کان په جواز یا د کان په واک لیک کې له تعریف شوو ساحو څخه په یوې کې د لاندې میعاد له لږې مودې څخه عبارت وي:

- پنځلس کاله.

- په جواز یا واک لیک کې د پاتو کلونو شمېر.

۳- د هایدرو کاربن د یوهٔ شرکت لپاره "له تولید څخه د دمخه لګښتونو د بیا رسېدو موده" په قرارداد کې د پاتو کلونو شمېر دی.

(۲) د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد لرونکی داسي کنټل کېږي چې د کاني موادو او هایدرو کاربونونو سوداګریز فعالیتونه یې له لاندې مواردو څخه په یوهٔ کې (له هغو څخه هر یو چې لومړی واقع شي) پیل کړیدي:

۱- په هغهٔ کال کې چې د مالیې وزارت او د کانونو وزارت، پدې هکله چې ذکر شوو وزارتخانو د پورتني ذکر شوي شخصیت د لیکلي یاددښت په استناد، منلې ده چې ذکر شوي شخصیت سوداګریز فعالیتونه پیل کړیدي، لیکلی یاددښت صادر کړي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد یو لرونکی، د کانونو د واک لیک لرونکی وي، له هغهٔ کال څخه چې د کاني موادو پلورنه، له تولید څخه د دمخه لګښتونو په سلو کې له شپږو څخه زیات تشکیل کړي چې هغهٔ په تېر کال کې متقبل شوی دي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې یو ذکر شوی شخصیت د هایدرو کاربن د قرارداد لرونکی وي، هغه کال چې پکې د هایدرو کاربونونو د پلورنې له درکه عواید تر هغې وړاندې د نوموړي شخصیت په واسطه د متقبل شوو له تولید څخه د دمخه

ACKU

لګښتونو د ټاکلي حد له فيصدي څخه د لګښتونو د ټاکلي حد فيصدي د (۱۰۰) پر عدد باندې د هايدرو کاربن د کلونو د تقسيم له لارې لاسته راځي.

(۳) که چېرې د کان د جواز، د کان د واک ليک، د هايدرو کاربن د قرارداد يو لرونکی، د کان په جواز، د کان په واک ليک يا د هايدرو کاربن په قرارداد کې درج شوي خپل حقوق په بل شخصيت چې هغه هم د کان د جواز، د کان د واک ليک يا د هايدرو کاربن د قرارداد لرونکی دی وپلوري، لومړنی شخصيت کولای شي خپل له توليد څخه د دمخه متقبله لګښتونه د جواز، واک ليک يا د قرارداد د حقوقو د ترلاسه کولو په لګښتونو کې چې د (۱) فقرې مطابق د مخه وضع شوي نه وي، ورزيات کړي.

**<u>د چاپېريالي او ټولنيزو مکلفيتونو د بودجې د تمويل لپاره يوۀ پولي صندوق ته د اعانې په منظور د کسراتو وضع کول</u>**

**څلور اتيايمه ماده:**

د کان د جواز، د کان د واک ليک يا د هايدرو کاربن د قرارداد لرونکی هره اندازه پيسې چې ښايي د چاپېريالي او ټولنيز مکلفيت په اړه ورکړل شي. د ۱۳۸۴ کال د رسمي جريدې په (۸۵۹) ګڼه کې خپور شوي د کاني موادو د قانون د دوه اتيايمې مادې مطابق، يا د هر هغۀ قانون د لازمي پلان پر بنسټ چې پر هايدرو کاربونونو باندې د تطبيق وړ وي، وضع کړي.

نوموړې پيسې هغۀ بنسټ ته ورکول کېږي چې له هغۀ شخص سره چې د دې مادې مطابق، د دغۀ ډول لګښتونو د وضع دعوې وکړي هېڅ ډول مستقيمه يا غير مستقيمه رابطه ونه لري.

پورته ذکر شوی شخصيت، د د افغانستان بانک لخوا د يوۀ منظور شوي مالي بنسټ له لارې د ورکړو بانکي تضمين ليک د ماليې وزارت ته د کسر وړ مقدار په هکله او دا چې په امانت اېښودل شوی مقدار هغۀ ډول چې د دولت د کاني موادو په مقرراتو کې يا د هغۀ پلان پر بنسټ چې د هايدرو کاربن د هر قانون مطابق د برابرېدو وړ شوی دی، په مصرف نه رسوي، برابر وي.

**<u>د زيان لېږدېدل او د موافقه ليکونو دوام</u>**

**پنځه اتيايمه ماده:**

(۱) د دې قانون دوه څلوېښتمه ماده چې د عملياتي خالص زيان پر تشخيص باندې يو محدوديت تطبيقوي د کان د جواز، د کان د واک ليک يا د هايدرو کاربن د قرارداد پر يوۀ لرونکي باندې نه تطبيقېږي، که چېرې د کان د جواز، د کان د واک ليک يا د هايدرو کاربن د قرارداد يو لرونکی هغسې چې د دې قانون په اووه څلوېښتمه ماده کې تعريف شوي دي، د خالص عملياتي زيان متقبل شي، په هغۀ صورت کې نوموړی زيان د راتلونکي کال لپاره د مجرايي وړ لګښتونو په توګه، ګڼل کيږي.

(۲) د دې مادې د (۳) فقرې مطابق، د مالیې وزارت پدې قانون کې درج شوي حکمونه په هغهٔ وخت کې چې د کانونو د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد لرونکی، د کان د جواز، د کانونو د واک لیک یا د هایدرو کاربن په یوهٔ قرارداد کې، د لاندې مودې لپاره ذیدخل اړخ وي، تطبیقوي:

۱- د پنځو کلونو مودې لپاره، په هغهٔ صورت کې چې د کان د جواز، د کان واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد لرونکی، د کانونو د واک لیک لرونکی وي، ذکر شوي پنځه کلونه له هماغه کال څخه چې نوموړی شخصیت واک لیک اخلي، پیل کېږي.

۲- د اتو کلونو مودې لپاره، په هغهٔ صورت کې چې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد لرونکی د کان د جواز لرونکی وي، ذکر شوي اته کلونه، له هماغهٔ کال څخه پیل کېږي چې نوموړی شخصیت جواز لیک اخلي.

۳- د هایدرو کاربن د قرارداد موده، په هغهٔ صورت کې چې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد لرونکی، د هایدرو کاربن په قرارداد کې یو ذیدخل اړخ وي.

(۳) د مالیې وزارت پدې قانون کې درج شوي حکمونه، یوازې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدروکاربن د قرارداد پر لرونکي باندې چې د دې مادې په (۲) فقره کې توضیح شوی دی، په هغهٔ صورت کې تطبیقوي چې د کان د جواز، د کان د واک لیک یا د هایدرو کاربن د قرارداد لرونکي په لیکلي توگه موافقه کړې وي چې د مالیې وړ عواید یې د هغو کلونو لپاره چې د دې قانون حکمونه د مالیې وزارت په ذریعه د دې مادې پر بنسټ د وروستیو بدلونونو له په پام کې نیولو پرته تطبیقېږي، پر عایداتو باندې د مالیاتو په سلو کې د (۳۰) تر نورم لاندې راځي.

## دیارلسم فصل

## د مالیي ټاکل، د اظهار لیکونو وړاندی کول، اعتراضونه او د مالیاتو ورکول

**د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر**

**شپږ اتیایمه ماده:**

(۱) انفرادي اشخاص، شرکتونه او هغه مؤسسي چې د دې قانون یا د ګمرکونو د قانون د حکمونو مطابق، د مالیاتو یا د ګمرکي محصول په ورکولو مکلف دي او غیر انتفاعي ټولنیز سازمانونه او هغه خیریه مؤسسي چې مالیات د خپلو اړوندو کارکونکو له معاشونو یا مزدورۍ څخه وضع کوي او یا هغه اشخاص چې په بانکونو یا نورو مالي مؤسسو کې حساب لري یا یې پرانیزي، مکلف دي څو د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر واخلي. هغه کارکوونکي چې عوایدیې د دې قانون د حکمونو مطابق، د مالیاتو د وضع کولو تابع ګرځي، هم د دې حکم تابع دي.

(۲) د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر د ګټي اخستني او وېشلو کړنلاره د مالیي وزارت لخوا ترتیبیږي.

(۳) د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر د نه لرونکو حقیقي یا حکمي اشخاصو د فعالیت د جواز لیک وېشل او نوي کول چې په اخستلو یې مکلف دي، د وزارتونو، ادارو او نورو دولتي مؤسسو لخوا جواز نه لري.

**د مالیي ټاکل او تعدیلول**

**اووه اتیایمه ماده:**

(۱) جواز لرونکي حکمي اشخاص او حقیقي اشخاص چې پدې قانون کې د درج شوو حکمونو مطابق پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع دي، مکلف دي د عوایدو، د مالیاتو د وضع کولو او نورو اړینو معلوماتو د رپوټ د وړاندې کولو لپاره مفصل مالیاتي بیلانس او اظهار لیک د دې قانون او پر عایداتو باندې د مالیاتو د تعلیماتنامي د حکمونو مطابق ډک او اړوندې مالیاتي څانګې ته وړاندې کړي.

(۲) هغه انفرادي مالیه ورکوونکی چې د دې قانون د حکمونو مطابق د کارفرما په واسطه د مالیاتو د وضع کولو تابع دی، د اظهار لیک په ترتیبولو مکلف ندی، خو دا چې مزدوري یا معاش له څوګونو کار فرمایانو څخه لاس ته راوړي یا د مزدورۍ بر سېره بل عاید هم ولري.

د هغۀ معاش او مزدورۍ مالیه چې د دې قانون د حکمونو مطابق وضع شوېده، د بېرته ورکړې وړنده.

(۳) که چېرې مؤدي خپل مالیاتي اظهار لیک د دې قانون د حکمونو مطابق تسلیم او د ذمت مالیه یې پکې درج وي، دغه اظهار لیک د ورکړې وړ مالیي او د هغۀ د مالیي د ټاکني د یاددښت په توګه ګڼل کیږي.

(۴) که چېرې د مالیي وزارت باوري شي چې په مالیاتي اظهارلیک کې برابر شوی معلومات د مؤدي د ذمت مالیه نه څرګندوي، د مالیي وزارت د هغۀ د ذمت مالیه ټاکي او د مالیي د مقدار په هکله د مالیي د ټاکني تعدیل شوی یاددښت هغۀ

شخص ته چې د مالیي د ورکړې مسؤل دی، صادر وي. په هغهٔ صورت کې چې د مالیي وزارت باوري شي چې په یاددښت کې درج شوی رقم صحیح ندی، دغه یاددښت هم تعدیل او د مالیې د ټاکنې د یاددښت په توګه ګڼل کېږي.

(۵) که چېرې مؤدي خپل مالیاتي اظهار لیک، د دې قانون د حکمونو مطابق ترتیب او تسلیم نکړي، د مالیي وزارت د هغهٔ د ذمت مالیه ټاکي او یاددښت یې هغهٔ شخص ته چې د مالیې په ورکړه مکلف دی صادر وي. که چېرې دمالیي وزارت باوري شي چې په نوموړي یاددښت کې درج شوی رقم صحیح ندی، دغه یاددښت هم تعدیلېږي.

(۶) د مالیې وزارت د مالیې د ټاکنې یاددښت، د پنځو کلونو په موده کې پیل له هغې نېټې څخه چې مالیاتي اظهار لیک ډک او یاددښت په هغهٔ پورې ارتباط ومومي، صادر یا تعدیلوي. د مالیې وزارت کولای شي د مالیې د ټاکنې یاددښت هر کله چې شخص د خپل مالیاتي اظهار لیک په تسلیمولو بریالی نشي یا غلط مالیاتي اظهار لیک (له مالیي څخه د تېښتې په نیت) تسلیم کړي صادر یا تعدیلوي.

(۷) که چېرې د مالیي وزارت باوري شي چې د شخص د ذمت د مالیي تحصیل پدې دلیل چې هغه له افغانستان څخه د تللو، د شرکت کارته د پای ورکولو یا د ملکیت د لېږدولو په حال کې دی یا په نورو دلیلونو په خطره کې وي، د مالیې وزارت د مالیې د ټاکنې یاددښت د روان کال یا د دمخه مالي کلونو د هرې زماني مقطع لپاره صادرولی شي.

**<u>د مالیاتي اظهار لیک د وړاندې کولو او د مالیې د ورکړې وخت</u>**

**اته اتیایمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې د مالیاتي اظهار لیک او بېلانس (د انتفاعي معاملو د خدمتونو د وړاندې کولو د مالیي د فورمې په استثنې) په بشپړولو مکلف وي، باید خپل مالیاتي اظهار لیک د راوروسته کال د غبرګولي (دریېمې میاشتې) تر پایه پورې د مالیي اړوند دفتر ته تسلیم کړي.

(۲) د مالیاتو د ټاکنې په یاددښت کې درج شوې مالیه په هغهٔ کې په ټاکلې موده کې د ورکړې وړ ده.

(۳) هغهٔ مېشت یا غیر مېشت اشخاص چې هېواد د خپل ذمت د مالیاتو د ورکړې له ټاکلې نېټې څخه د مخه پرېږدي، مکلف دي له تللو دوه اونۍ د مخه اړوند اظهار لیک تسلیم او د خپل ذمت مالیات ورکړي.

(۴) هغه اشخاص چې د دې قانون د حکمونو مطابق د اظهار لیک په وړاندې کولو مکلف دي او د دې قانون مطابق د ورکړو د نورو مقرراتو تابع ندي، باید د مالیاتي اظهار لیک د وړاندې کولو په ترڅ کې اړوند مالیات ورکړي.

(۵) هغه اشخاص چې د انتفاعي معاملو د مالیاتو د فورمې په ډکولو مکلف دي، مالیاتي اظهار لیک په هرو دریو میاشتو کې ډک او د خپلو ورکړې وړ مالیو د تحویلی له سندونو سره یو ځای دې، د راوروسته میاشتې تر پنځلسمې نېټې پورې، د کال له هرې ربعې وروسته تسلیم کړي.

(۶) هغه اشخاص چې د اقتصادي کار او فعالیت په ثابتو ځایونو کې د خدمتونو په وړاندې کولو باندې بوخت وي، مکلف دي، د خپل ذمت مالیه په هرو دریو میاشتو کې د راوروسته میاشتې تر پنځلسمې پورې ورکړي، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول اټکل شوی وي.

(۷) هغه اشخاص چې د منقول او غیر منقول ملکیت لرونکي دي، مکلف دي د خپل ذمت مالیه د ملکیت د لیږدولو د ثبت په وخت کې ورکړي.

(۸) له دولتي ادارو سره د عقد شوو قراردادونو مالیه، د دې قانون په دري اویایمه ماده کې د درج شوی حکم مطابق د ورکړو د اجراء په وخت کې، د اړوندې دولتي ادارې لخوا وضع کیږي.

(۹) د نمایشګاوو، تیاترونو، سینماګانو، کنسرټونو، ننداړتونونو، ورزش ځایونو او هغو ته ورته، پر عایداتو باندې مالیات د راوروسته میاشتې تر پنځلسمې نیټې پورې د ورکړې وړ دي. په هغهٔ صورت کې چې د ذکر شوو نمایشګاوو فعالیت دوامدار نه وي، د هغو مالیه دې د نمایش په پای کې واخستل شي.

**<u>اعتراضونه او عریضې</u>**

**نهه اتیایمه ماده:**

(۱) هغه مالیه ورکوونکی چې مالیاتي اظهار لیک د دې قانون د حکمونو مطابق وړاندې یا د مالیې د ټاکنې یاددښت تسلیم شوی وي او وروسته باوري شي چې مالیاتي اظهار لیک یا د مالیې د ټاکنې یاددښت به ناسم وي، پدې صورت کې کولای شي د مالیې د یاددښت تعدیل یوازې د مالیاتي اظهار لیک د وړاندې کولو له نېټې څخه د پنځو کلونو په موده کې وغواړي.

(۲) د مالیې وزارت د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی یاددښت، د غوښتنلیک له وړاندې کولو وروسته د (۶۰) ورځو مودې په ترڅ کې تعدیل یا تأیید او مالیه ورکوونکي ته یې ابلاغوي. که چیرې د مالیې وزارت د دې مودې په ترڅ کې اجراآت ونکړي، داسې ګڼل کیږي چې د مالیې د ټاکنې د مخنی یاددښت تأیید شوی دی.

پدې صورت کې مؤدي کولای شي د نوموړې مودې له ابلاغ یا تیرېدو وروسته د (۳۰) ورځو په ترڅ کې خپل اعتراض د مالیې وزارت ته وړاندې کړي. اعتراض د څېړنې د هیئت لخوا زیات نه زیات د (۶۰) ورځو په موده کې تر غور لاندې نیول کیږي، لازم تصمیم نیسي.

که چیرې د څېړنې هیئت، پدې موده کې تصمیم و نه نیسي یا مالیه ورکوونکی د څېړنې د هیئت پر نیول شوي تصمیم قناعت ونکړي، کولای شي د هیئت د تصمیم د ابلاغ له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې محکمې ته مراجعه وکړي. د محکمې حکم پدې هکله قطعي او د تطبیق وړ دی.

**<u>بېرته ورکړه</u>**

**نوي يمه ماده:**

که چېرې د ماليې وزارت د مالياتي اظهار ليک د څېړنې، د مؤدي د ادعا يا د محکمې د فيصلې له املـه وپوهېږی چې ورکړل شوې ماليه له ټاکلې اندازې څخه زياته ده، ورکړل شوې ماليه لومړی د مؤدی د نورو مالياتو د رفع کولو يا د هغهٔ د ورکړې وړ ګمرکي محصولاتو يابې په خپله موافقه د نورو تأديه کوونکو په حساب محاسبه کېږي او د هغې لـه اجراء وروسته اضافي مقدار بيا، پر عايداتو باندې د مالياتو د تعليماتنامې له په پام کې نيولو سره مؤدي ته مستردېږي.

**<u>د معلوماتو ترلاسه کول</u>**

**يو نوي يمه ماده:**

(۱) د دې قانون د حکمونو د ښه تطبيق په منظور، د ماليې وزارت واک لري، څو د ماليه ورکوونکي سندونه وڅېړي او د دې منظور لپاره کولی شي د مالي او سوداګريز چارو په اړه هر ډول معلومات له ماليه ورکوونکي يا نورو اشخاصو څخه وغواړي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي معلومات او د اظهار ليک په اړه ترلاسه شوي معلومات محرم دي او د ماليې وزارت د اړوندو مؤظفينو لخوا نه افشاء کېږي، خو د قانون په حکم.

(۳) د ماليه ورکوونکي د سندونو د څېړنې ډول پر عايداتو باندې د مالياتو د قانون په تعليماتنامه کې مشخصېږي.

(۴) هغه شخص چې له موجهو دلايلو پرته د شلو ورځو مودې په ترڅ کې سندونه د ماليې وزارت د مؤظفينو پـه واک کې ورنکړي يا د معلوماتو له ورکولو څخه ډډه وکړي، د غوښتنې لـه نېټې څخـه د هرې ورځـې پـه وړاندې پـه لاندې توګه د اضافي ماليې په ورکړه مکلف دی:

۱- حقيقي شخص سل افغانی.

۲- حکمي شخص دوه سوه افغانی.

د رخصتۍ ورځې لدې حکم څخه مستثني دي.

## څوارلسم فصل

## تطبيقي حکمونه

**<u>له ثالث شخص څخه د نه ورکړل شوو مالياتو تحصيل</u>**

**دوه نوي يمه ماده:**

د ماليې وزارت کولای شي د مؤدي له موافقې پرته، د ليکلې يادداښت پربنسټ د ورکړې وړ ماليات له لاندې اشخاصو څخه هم ترلاسه کړي:

۱- هغه شخص چې له مؤدي څخه پور وړی وي.

۲- هغه شخص چې د مؤدي پيسې ساتي.

۳- هغه شخص چې پيسې د بل شخص په نمايندګی، مؤدي ته د ورکړې په منظور ساتي.

۴- هغه شخص چې مؤدي ته د پيسو د ورکړې لپاره د بل شخص واک لري.

۵- هغه حقيقي او حکمي شخص چې مؤدي ته د معاشونو، مزدوريو او هغو ته د ورته په ورکړې مکلف وي.

**<u>د آمرانو، ونډه لرونکو او نورو اشخاصو مکلفيت</u>**

**دري نوي يمه ماده:**

هغۀ شرکت چې پر ورکړې وړ عايداتو باندې ماليات د دې قانون د حکمونو مطابق ور نکړي، د ماليې وزارت کولای شي د هغۀ د ذمت ماليه له لاندې اشخاصو څخه تحصيل کړي:

۱- هغه واکمن مسؤلين چې د شرکت د مالياتي مکلفيت په رفع کولو کې يې بې توجهي کړېده.

۲- هغه ونډه لرونکی چې لږ تر لږۀ په سلو کې لس د شرکت په مالکيت کې ونډه ولري، د ونډې د هغې ګټې په اندازه چې هغه ئي له شرکت څخه لاسته راوړي.

۳- هغه شخص چې د شرکت د شتمنۍ يوه يا له يوې څخه زياته برخه يې د بازار له بيې څخه په ټيټ نرخ د نه ورکړل شوو مالياتو د ورکړې له نېټې څخه درې کاله د مخه، د معاملې د اجراء په وخت کې لاس ته راوړې وي.

**ممنوع الخروج شخص**

**څلورنوي يمه ماده:**

هغه شخص چې مالياتي او تأدياتي حسابونه يې له شلو زرو افغانيو څخه زيات وي او هغه يې له اړوندو مراجعو سره تصفيه کړي نه وي، له هېواد څخه وتلی نشي. د ماليې وزارت واکمن مقامونه کولای شي د هغهٔ د نه وتلو په هکله اړوندو امنيتي مراجعو ته ليکلی يادداښت ولېږي.

**بندول**

**پنځه نوي يمه ماده:**

که چېرې مؤدي، مالياتي اظهار ليک او ماليات د دې قانون د حکمونو مطابق په ټاکلي وخت وړاندې نکړي، ورنکړي يايې وضع نکړي، د ماليې وزارت کولای شي مؤدي ته د ليکلي يادداښت په ذريعه، پدې اړه چې د فعاليت يوه برخه يا ټول يې د يادداښت بندوي، خبر ورکړي. دغه حکم د ماليې وزارت د واکمنو مقامونو له لاسليک وروسته د مالياتي او تأدياتي حسابونو تر بشپړې تصفيې پورې نافذ دی ام امنيتي مراجع مکلف دي، د دې حکم په تطبيق کې همکاري وکړي.

**شتمنۍ ته د مؤدي د لاس رسۍ محدوديت**

**شپږ نوي يمه ماده:**

(۱) که چېرې مؤدي مالياتي اظهار ليک او ماليات د دې قانون د حکمونو مطابق په ټاکلي وخت وړاندې نکړي، ورنکړي يايې وضع نکړي د ماليې وزارت کولای شي واکمنې محکمې ته مراجعه وکړي او د مالياتي او تأدياتي حسابونو تر تصفيې پورې په مؤدي پورې د اړوندو منقولو او غير منقولو شتمنيو د لاس رسۍ محدوديت (بلاک) وغواړي.

(۲) که چېرې مؤدي د (۳۰) ورځو په موده کې خپل مالياتي او تأدياتي وجايب اداء نکړي، د ماليې وزارت کولای شي واکمنې محکمې ته مراجعه وکړي او پلورل يې وغواړي، که چېرې مؤدي د محکمې د حکم له صادرېدو د مخه، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شويو مکلفيتونو سرته رسولو ته حاضر شي، له عدلي تعقيب څخه ئې صرف نظر کېږي.

(۳) واکمنه محکمه کولای شي، د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې د مزايدې او داوطلبی له لارې د ذکر شوو شتمنيو په پلورلو حکم صادر کړي.

(۴) د ماليې وزارت د پلورنې له ماحصل څخه، د مؤدي مالياتي او تأدياتي وجايب اخلي او پاتې يې هغهٔ ته مستردوي.

## پنځلسم فصل

## د مالیې له پټولو څخه مخنیوی

**د مرتبطو اشخاصو تر منځ معاملې**

**اووه نوي یمه ماده:**

که چېرې یوه معامله د حکمي اشخاصو لخوا له مرتبطو اشخاصو (خپلوانو او د معاملې شرېکانو) او همدارنګه عین معامله له غیر مرتبطو اشخاصو سره د بیو په توپیر سره صورت ومومي، د مالیې په سنجولو کې هغه رقم په پام کې نیول کېږي چې د مالیې ډیر لوړ رقم ترلاسه کړي.

**د مالیې پټول**

**اته نوي یمه ماده:**

(۱) که چېرې مالیه ورکوونکی په داسې یوه معامله کې ور داخل شي چې عمدا د هغهٔ د مالیاتي او تأدیاتي مکلفیتونو د کمېدو باعث وګرځي، د مالیې وزارت معامله ردوي او ترڅېړنې لاندې یې نیسي.

(۲) هغه اشخاص چې د خپلې مالیې د ورکړې وړ عواید پټ کړي، په لاندې توګه د اصلي او اضافي مالیې په ورکړې مکلف کېږي:

- لومړی ځل، پټه کړی شوې د ورکړې وړ اصلي مالیه د اضافي مالیې له دوه چنده جریمې سره.

- دوه یم ځل، د پټې کړی شوې ورکړې وړ اصلي مالیې برسېره، اضافي مالیه له دوه چنده جریمې سره. په دې صورت کې د پټوونکي اقتصادي فعالیت د محکمې د حکم پر بنسټ درول کېږي.

ACKU

## شپاړسم فصل

## اضافي ماليه او مالياتي جريمې

**<u>سرغړونې او مجازات</u>**

**نهه نوي يمه ماده:**

(۱) که چېرې مؤدي په دې قانون کې درج شوي مالياتي مکلفيتونه په پام کې ونه نيسي، د خپل ذمت د مالياتو پر ورکړې برسېره د اضافي ماليي په ورکړه مکلف او د دې فصل د حکمونو د مجازاتو مستوجب هم دی. اضافي ماليه پدې قانون کې د نورو درج شوو مالياتو په څېر سنجش او تحصيل کېږي.

(۲) پر عايداتو باندې اضافي ماليه، په لاندې مواردو کې د ورکړې وړ ده:

۱- د دې قانون په حکمونو کې په درج شوي ټاکلي وخت کې د ماليې د نه ورکړې په صورت کې.

۲- د سوداګريزو معاملو د سندونو او دفترونو د نه خوندي کولو، نه ساتنې او نه وړاندې کولو په صورت کې.

۳- د مالياني بېلانس او اظهار ليک د نه وړاندې کولو په صورت کې.

۴- د ماليي د نه وضع کولو په صورت کې.

۵- د ماليي د نه ورکولو په صورت کې.

۶- د ماليي ورکوونکي د تشخيصيه نمبر د نه اخستلو په صورت کې.

**<u>په ټاکلي وخت د ماليي د نه ورکولو په صورت کې اضافي ماليه</u>**

**سلمه ماده:**

هغه اشخاص چې د خپل ذمت ماليه په ټاکلي وخت ورنکړي، د ورځې په سلو کې د (۱۰٪) فيصد اضافي ماليي په ورکولو مکلف دي.

**<u>د سندونو د نه ساتنې په صورت کې پر عايداتو باندې اضافي ماليه</u>**

**يو سلو يوه يمه ماده:**

(۱) هغه مؤدي چې له دليلونو پرته د اړوندو معاملو سندونه او دفترونو، د دې قانون د حکمونو مطابق په سمه توګه برابر، خوندي او ونه ساتي يايي د ماليي وزارت د مؤظفينو په لاس رسی کې ورنکړي حقيقي شخص د پنځو زرو افغانيو د اضافي ماليي په ورکړه او حکمي شخص د شلو زرو افغانيو اضافي ماليي په ورکړه مکلف دی.

(۲) هغه شخص چې له مالیې څخه د تېښتې په نیت، د اړوندو معاملو سندونه او دفترونه برابر، خوندي او ونه ساتي، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې اضافي مالیې پر ورکړې برسېره څارنوالۍ ته معرفي کېږي.

**د مالیاتي اظهار لیک د نه وړاندې کولو په صورت کې اضافي مالیه**

**یو سلو دوه یمه ماده:**

(۱) هغه حقیقي شخص چې له مؤجهو دلیلونو پرته اړوند مالیاتي اظهار لیک، د دې قانون د حکمونو مطابق د ټاکلې مودې په ترڅ کې وړاندې نکړي، د هرې ورځې ځنډ په وړاندې د سلو افغانیو اضافي مالیې په ورکړه او حکمي شخص د هرې ورځې ځنډ په وړاندې د پنځه سوو افغانیو اضافي مالیې په ورکولو مکلف دی. د رخصتیو ورځې لدې امر څخه مستثنې دي.

(۲) هغه شخص چې له مالیې څخه د تېښتې په نیت اړوند مالیاتي اظهار لیک ، د دې قانون د حکمونو مطابق، د ټاکلې مودې په ترڅ کې وړاندې نکړي، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې اضافي مالیې پر ورکړې بر سېره څارنوالۍ ته ورپېژندل کېږي.

**د مالیې د نه وضع کولو په صورت کې اضافي مالیه**

**یو سلو درې یمه ماده:**

(۱) هغه اشخاص چې له موجهو دلیلونو پرته د معاش، مزدورۍ، د ټکټاني د عوایدو، د سهم د ګټې، کرایې، کمېشن، حق الامتیاز او ورته عوایدو مالیه د دې قانون د حکمونو مطابق وضع نکړي، په سلو کې د لس اضافي مالیې په ورکړه مکلف دي.

(۲) هغه اشخاص چې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې مالیې له ورکړې څخه د تېښتې په نیت، مالیات وضع نکړي، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج اضافي مالیې په ورکړه برسېره څارنوالۍ ته ورپېژندل کېږي.

**د مالیې د نه ورکړې په صورت کې اضافي مالیه**

**یو سلو څلورمه ماده:**

(۱) هغه اشخاص چې له موجهه دلیل پرته وضع شوې مالیه د دې قانون د حکمونو مطابق ورنکړي، د دې قانون په سلمه ماده کې د درج شوې مالیې پر ورکړه برسېره په سلو کې د لسو اضافي مالیې په ورکړه مکلف دي.

(۲) هغه اشخاص چې له مالیې څخه د تېښتې په نیت، وضع شوې مالیه، د دې قانون د حکمونو مطابق ورنکړي، د دې مادې په (۱) فقره د درج شوې اضافي مالیې پر ورکړه بر سېره څارنوالۍ ته ورپېژندل کېږي.

**د ماليه ورکوونکی د تشخيصيه نمبر په اړه اضافي ماليه**

**يو سلو پنځمه ماده:**

هغه حقيقي شخص چې د دې قانون د يو نوي يمي مادې د حکم مطابق د ماليه ورکوونکي د تشخيصيه نمبر په لرلو مکلف دی، له مؤجه دليل پرته هغه وانخلي، د پنځو زرو افغانيو اضافي ماليې په ورکړه او حکمي شخص د شلو زرو افغانيو اضافي ماليې په ورکړه مکلف دی.

**د مالياتی مؤظفينو سرغړونی**

**يو سلو شپږمه ماده:**

(۱) که چېرې مالياتي مؤظفين د مستقيمي يا غير مستقيمي ګټې د ترلاسه کولو په نيت پدې قانون کې درج شوي معلومات افشاء کړي يا نور هغه اشخاص چې د معلوماتو په افشاء کولو کې له هغۀ سره مرسته وکړي، څارنوالی ته ورپېژندل کېږي.

(۲) که چېرې مالياتي مؤظفين د اړوندو واکمنو مقامونو له رسمي اجازې پرته د مستقيمي يا غير مستقيمي مالي ګټې يا نورې ګټې د ترلاسه کولو په نيت له خپل موقف څخه ناوړه ګټه واخلي، څارنوالی ته ورپېژندل کېږي.

**د اضافي مالياتو د تحصيل واک**

**يو سلو اوومه ماده:**

د دې فصل په حکمونو کې درج شوې اضافي ماليات د ماليې وزارت د مالياتي څانګو په واسطه تحصيل کېږي.

## اوولسم فصل

## وروستني حکمونه

**<u>د کړنلارې د وضع کولو او د فورمو برابرول</u>**

**یو سلو اتمه ماده:**

(۱) د مالیې وزارت د مالیاتو د تشخیص، تثبیت او اخستلو په منظور هغه فورمې چې د قانون د حکمونو مطابق اړینې ګڼل کېږي برابر وي.

(۲) د مالیې وزارت د دې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور پر عایداتو باندې د مالیاتو تعلیماتنامه، جلا کړنلاره او لایحې (عمومي او انفرادي) وضع کوي.

**<u>د جواز نه صادرول</u>**

**یو سلو نهمه ماده:**

(۱) که چېرې حقیقي یا حکمي اشخاص، د خپلې غاړې د ورکړې وړ مالیه، د دې قانون د حکمونو مطابق، د هغې په ټاکلي وخت ورنکړي، د مالیې وزارت کولی شي، د هغو د سوداګریز جواز د نه نوي کولو په هکله، هغو ادارو او مؤسسو ته چې د جواز د صادرولو واک لري، خبر ورکړي.

د اشخاصو جواز هغه وخت د اجراء وړ دی چې د مالیې له وزارت څخه د خپل مالیاتي نه مسؤلیت سند اړوندې ادارې ته وړاندې کړي. سربېره د جواز د صادرولو ادارې نشي کولی له انفرادي اشخاصو، د سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونو رئیس چې د خپل یا خپلو شرکتونو مالیاتي مکلفیتونه یې ندي اداء کړي، د عین شخص یا نوموړو شرکتونو په نوم بل جواز صادر کړي.

(۲) د جواز صادروونکې ادارې مکلفې دي څو د حقیقي او حکمي اشخاصو لست او مشخصات چې د هغو جواز د اعتبار وړ دی، د انټرنټ له لارې د دولتي ادارو په واک کې ورکړي.

- ټولې دولتي ادارې او مؤسسې مکلفې دي د قرارداد د عقد په وخت کې د جواز د اعتبار له صحت او نېټې څخه ډاډ ترلاسه او وروسته قرارداد عقد کړي.

(۳) د دولتي مقاماتو د معاشونو د قانون په دوه یمه ماده کې درج شوي ذوات، له غوراوي او انتصاب د مخه مکلف دي، څو د نه باقیدارۍ فورمونه د مالیې وزارت له لارې بشپړ کړي.

## له معافیت څخه د ګټې اخستنې شرایط

**یو سلو لسمه ماده:**

(۱) هغه منظور شوي تشبثات چې د ۱۳۸۱/۶/۲۰ نېټې په (۸۰۳) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې د قانون او اړوندو قوانینو په حکمونو کې درج شوي مکلفیتونه سرته نه وي رسولي، د ۱۳۸۳ کال د چنګاښ له لومړۍ نېټې څخه وروسته د نوموړي قانون په حکمونو کې له درج شوي معافیت څخه د ګټې اخستنې مستحق ندي.

(۲) هغه منظور شوي تشبثات چې د دې مادې په (۱) فقره کې درج د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې د قانون د حکمونو مطابق چې له ۱۳۸۲/۹/۱ نېټې څخه د مخه یې عملاً په فعالیت پیل کړی وي، په هغه صورت کې کولای شي د هغه په حکمونو کې له درج شوو امتیازونو څخه ګټه واخلي چې پدې قانون او اړوندو قوانینو کې درج شوي حکمونه یې په پام کې نیولي وي او په پام کې نیولو ته یې دوام ورکړي.

(۳) هغه منظور شوي تشبثات چې د دې مادې په (۱) فقره کې د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې په قانون کې له درج شویو مالیاتي معافیتونو څخه یې ګټه اخستې ده یا د دې مادې په (۱) فقره کې د درج حکم له په پام کې نیولو سره یا د هغوی د مالیاتي معافیت د نېټې د تېرېدو په نسبت د هغو مالیاتي معافیت پای ته رسېږي، په هغه صورت کې چې ذکر شوی تشبثات تر ۱۳۸۳/۴/۱ نېټې پورې ثبت او راجستر شوي وي، د هغو د پاتې نه استهلاک شوې شتمنۍ ارزښت په هماغې نېټه د ثابتې شتمنۍ د ارزښت په توګه ګڼل کېږي.

## د قانون ارجحیت

**یو سلو یوولسمه ماده:**

(۱) د دې قانون له حکمونو سره د قراردادونو، موافقه لیکونو او نورو تقنیني سندونو د حکمونو د مغایرت په صورت کې، پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون مرجح ګڼل کېږي.

(۲) د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او بهرنیو دولتونو یا نړیوالو مؤسسو ترمنځ عقد شوي قراردادونو او موافقه لیکونه، د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثنې دي.

## مکلفیتونه او باقیدارۍ

**یو سلو دوولسمه ماده:**

(۱) له (۱۳۸۱) څخه د مخه کلونو ټولو حقیقي او حکمي اشخاصو باقیداري او نور مالیاتي مکلفیتونه معاف دي.

(۲) د حقیقي او حکمي اشخاصو مالیاتي جرمونه او له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۵ کال پورې د (۱۳۸۵) کال د بېلانس او اظهار لیک په شمول، د مالیاتي بېلانس ځنډول، په هغه صورت کې معاف ګڼل کېږي چې اصلي باقیداري، په رسمي جریده کې د دې قانون د خپرېدو له نېټې څخه زیات نه زیات د دریو میاشتو په موده کې ورکړي.



ACKU

(۳) هغه باقیدار اشخاص چې خپل مالیاتي حسابونه یې، د دې قانون له انفاذ د مخه تصفیه کړي وي، د دې مادې د (۱ او ۲) فقرې د حکم له امتیاز څخه مستثني دي.

**د انفاذ نېټه**

**یو سلو دیارلسمه ماده:**

(۱) دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

(۲) د څلورمې مادې د (۳) فقرې، (۵۹، ۶۴، ۶۵، ۶۶، ۶۷، ۷۲، ۷۴، ۷۵) مادې او د دې قانون د اته اتیایمې مادې د (۵ او ۶) فقرې حکمونه د (۱۳۸۸) کال له پیل څخه د تطبیق وړ دی.

(۳) د دې قانون په نافذېدو سره لاندې قوانین د ۱۳۸۸ کال له پیل څخه ملغي ګڼل کېږي.

۱- د ۱۳۸۴ کال په (۸۶۷) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون او نور تعدیلونه، ضمیمې او مغایر حکمونه.

۲- د ۱۳۵۹/۲/۳۱ نېټې په (۴۵۳) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د استهلاکي موادو د مالیې قانون، د نوموړي قانون د ۱۳۶۱/۷/۱۵ نېټې په (۵۱۷) ګڼه رسمي جریده کې خپرې شوې ضمیمې د لسمې او یوولسمې مادې د تعدیل په اړه د هغۀ له (۱) ګڼې ضمیمې سره.

۳- د ۱۳۶۱/۵/۳۱ نېټې په (۵۱۴) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د صکوکو د اخستلو قانون.